مورچل

دکابل واکمن!

وروستي لاس او پښې وهي

د ترمپ ستراتيژي په مقابل کې د طالبانو ځوابي تکتيکونه

دوولسم کال، اوومه، پر لپسې ۱۱۹مه گڼه،
شوال المکرم ۱۴۳۹هـ ق جولای ۲۰۱۸م

امارتي مسؤلين د دفاع په لومړني مورچل کې!
دامریکایانو شاګرځ مو ولید!!؟
که دا جګړه بین الافغاني وي نو د جنرال نیکلسن سرشتې ورکې د څه لپاره دي؟!
دوستم چا او ولې راووست !!؟



مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال اوومه، پرلپسې ۱۱۹ مه ګڼه،
شوال المکرم ۱۴۳۹ هـ ق جولای ۲۰۱۸ م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله	۱
۲	ددښمن وحشي ځواکونه باید وپیژنو او هدف یې وګرځو	۲
۳	دټرمپ استراتیژۍ په مقابل کې د طالبانو ځوابي	۵
۴	دامریکایانو شاګرځ مو ولید!!؟	۷
۵	که دا جګړه بین الافغاني وي، نو د جنرال نیکولیسن	۹
۶	آیا په امریکا باور کیدای شي؟؟	۱۱
۷	امارتي مسئولین ددفاع په لومړني مورچل	۱۴
۸	دچین مسلمانان او د چین دولت دتوجو وړ ځوپکي	۱۶
۹	دوستم چا او ولې راووست؟	۲۰
۱۰	غصب شوی فلسطین کې میشت مسلمانان	۲۲
۱۱	طالبان دهیواد د اتوماتې ژغورنې انرژي	۲۶
۱۲	د اسلام غزوات او سرایا/عمرة القضاء	۳۰
۱۳	جنګي جنایتونه (جولای)	۳۴
۱۴	د مورچل وړمې	۳۸
۱۵	د ۲۰۱۸م کال د جولای میاشتې جهادي خبرونه	۴۰

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

صلاح الدین "صارم"

کتنپلاوی

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

دکابل واکمن!

وروستي لاس او پښې وهي

دتمدن په دې نوين عصرکې يواځې امريکاوه چې په دیالوګ او خبرو اترو يې باور نه و اوتربل هرڅه يې ډېر اعتماد په خپل زور و، له دې سرتمبګۍ نه په استفاده دکابل واکمن ترامريکايانو لادوه ګامه وړاندې و چې دخپل ولس هيڅ ديني، ملي او وطني ارزښتونوته يې احترام ونه لاره، دهغوی په ککريوکې هيڅکله داخبره نه راګرځېدله چې دا شپې او ورځې تل په يوه حال نه وي او يوه ډېر کمزوري ته هم يوه ورځ د وار چانس او موقع په لاس ورځي .

اوس چې هماغه سرتمبه امريکا دافغان ولس عزم او ارادې ته راتيته شوه، دکابل واکمنو هڅې شروع کړې چې که وکولای شي دامريکاله وتو وروسته هم پښې ټينګې کړي اوپاته شي ، ځکه يې نو په رندو بمباريو او غديو لاس پورې کړی د پکتيا، ننګرهار، غزني،لوګر، خوست، کندز،کاپيسا....اوګڼونورووولايتونو کې په هر محاذ له مجاهدينو سره په جګړه کې له ماتې وروسته په عام ولس دهشت او ترور خپروي کورونه، دوکانونه ، تعليمي مراکزاو بازارونه يې ورانوي، عام ولسي خلک له ځان سره يرغمل وړي.

کېدای شي داکردار دخپلوامريکايي بادارانو په اشاره ترسره کوي اودوی هم منلې وي چې هغوی نور د پاته کېدو نه دي اوخپلې وروستۍ هڅې بايد ونه سپموي،خودا چې ددوی داهڅې به څومره نتيجه ورکړي؟ نوکه ادنی تعقل هم ولري،دامريکايانوسرنوشت يې په مخ کې پروت دی چې عبرت ترې واخيستلی شي او وروستۍ کره نتيجه په لاس ورکړي.

يورون حقيقت چې دوروستيو بدلونونو اوبرياووراز ګڼل کيږي دادی چې ولس هيڅکله له هغه څه راضي نه وو چې تېراوولس کاله داشغالګرو او اجيرانو له خوا ورته کار وشو، ځکه خوښ داسلامي امارت خوا نېولې اوله خورا ډېروکړاوونو سره سره يې له هغوی لار بهله نه کړه داځکه چې زمونږ ولس مسلمان مجاهد ولس دی اوپوهيږي چې ددوی دبرحقه داعيې تمثيل څوک په ښه توګه کولای شي .

که څه هم ددې حقيقت دپټولو ډېرې هڅې وشوې اوپه نړيواله سطحه ورته تبليغ وشو خوداچې حقيقت نه شي پټېدای اوهرومروځان ښيي بالآخره نړيوالواوتولواشغالګرو ومنله چې نور له هغه چاسره هيڅکله پرلپسې جګړه نه کيږي چې دولس له منځه وي اوله هغوی سره ژوړې ريښې ولري .

نو په داسې يوه حساسه مقطع کې دترور او وحشت په ځای دغه حقيقت ته له سرټيټولوپرته بله هيڅ چاره معقوله اوناجي نه ده، په ځای او مناسبه به وي چې دکابل واکمن هم دولس ارادې ته ځان تسليم کړي اودخپلو نامعقولو کړنلارو اوناکاميو کسات له ولسه وانخلي .

د دښمن وحشي ځواکونه بايد وپيژنو

او هدف يې وګرځوو

زخمي افغان

په دې وروستيو کې روزانه د هيواد په بيلابيلو کليو او اطرافي سيمو د خارجي او داخلي عسکرو دوحشيانه بريدونو راپورونه اورو. په دې وحشيانه عملياتو کې هره ورځ لسګونه بې ګناه ولسي وګړي شهيدانيږي. کورونه يې ورانيږي، مالي زيان وراوړي او قسماقسم وحشتونه وربانديې ترسره کيږي.

په دې وحشيانه عملياتو کې خو ځينې داسې هم وي چې په يوه شپه د يوه کلي لسګونه بې ګناه خلک له منځ وړل شوي وي. په تيرو څو ورځو کې په ننګرهار، لوګر، خوست ، پکتيا او کندز کې مورِ د همداسې وحشيانه عملياتو شاهدان وو. په دې پيښو کې ګڼ شمير ولسي وګړي شهيدان، کورونـه يـي بمبار او حتی مدرسې، مساجد او ښوونځي هم د وحشي چاپه مارانو لخوا تخريب او له خاورو سره برابر شول.

سره له دې چې د دښمن په صف کې ولاړ ټول عسکر له خپل دين او ټولنې بيګانه، بې حيثيته او ظالم افراد دي. مګر د دښمن په پوځي تشکيلاتو کې ځينې داسې دي چې خارجي يرغلګرو له لويه سره د وحشت خپرولو لپاره روزلي دي، هغوی يې د انسانيت له قالبه ايستلي او د خوړونکو خناورو په شان يې د انسان وژلو او داړلو تعليم ورکړی دی چې اوس له يرغلګرو سره ځنګ په ځنګ د هغوی پـه لبـاس

ملبوس او د هغوی په وسلو مسلح په امریکایي ځرخکو کې راځي او د بې دفاع افغان اولس په کلیو او کورونو چاپې اچوي او خلکو ته زیانونه اړوي.

د دښمن په لیکو کې دغه تر نورو وحشي خواکونه په دریو برخو کې خلاصه کیږي، چې یو یې د دفاع وزارت اړوند سپیشل فورس یا کماندو خواکونه دي. دوهم د ملي امنیت اړوندد صفر یک قطعې په نوم وحشي عسکر دي او دریم هم د خوست د ضربتي قوې په نوم هغه اجیر ټوپکیان دي چې د کابل له حکومت سره هیڅ اورګانیک تړاو نلري، بلکې د امریکایانو لخوا روزل شوي، هغوی مسلح کړي او اوس هم د امریکا د استخباراتي سازمان سي آی اې سره تړاو لري او مخامخ له امریکایانو قومنده اخلي.

دغه درې قسمه خواکونه که څه هم تشکیلات یې بیلابیل دي مګر روزنه او کردار یې یو ډول دی، د دوی افراد په ډیر دقت انتخاب شوي، اکثریت یې د پخوانیو کمونیستانو زامن او د اسلام سخت ترین دښمنان دي، نور یې د امریکایانو ترجمانان، قراردادیان، جاسوسان، د امنیتي کمپنیو ټوپکیان او هغه افراددي چې د خپل اولس په منځ کې خای نلري نو خکه یې ژوند او مرګ ټول د امریکایي یرغلګرو خدمت او د هغوی په قومنده جنګیدلو ته وقف کړی دی.

امریکایانو ددغو وحشي خواکونو روزنه له هغه وروسته پیل کړه چې کله په مخامخ جنګونو کې دامریکایي عسکرو تلفات زیات شول، نو یې فکر وکړ چې باید داسې افغان عسکر وروزی چې په نسب افغان خو د فکر، تعهد او کردار له مخې بشپړ امریکایان او د اشغال د بریا لپاره له خپل اولس سره له هیڅ راز ظلم مخ وانه ړوي.

اوس موږ وینو چې د سپیشل فورس، صفر یک قطعې او ضربتي خواکونو عسکر کت مت هماغسې ظالمانه او بې رحمه عملیات ترسره کوي لکه امریکایانو به چې کول.د همدې عسکرو یو ټولی څو ورځې وړاندې د پکتیا په زرمت کې د سهاکو سیمې ته لاړ او هلته یې د عملیاتو په نوم ۳۰ تنه ولسي وګړي ووژل . د سیمې عیني شاهدان وایي چې د ضربتي قوې بې رحمه عسکرو په هیڅا صرفه نه کوله، حتی ماشومان او ښځې یې قصدا ویشتل، کورونه یې لوټ کول او چې څوک په مخه ورتلل پرته له پوښتنې یې چارماري کول.

لکه څنګه چې په هر کار کې اولویتونه پیژندل ضرور دي او مجاهدین هم د داخلي عسکرو په نسبت خارجي یرغلګر مهم بولي چې باید په ننبه شي او له منخه یووړل شي. نو د دې لپاره چې د ولسي غمیزو مخه ونیول شي باید د دښمن دغه درې ډوله وحشي خواکونه هم د خارجي یرغلګرو په ردیف کې واخیستل شی. خکه دوی کت مت د یرغلګرو په شان چلند کوي، هغوی روزلي، هغه یي اکمالوي، د هغوی په څرخکو کې ګرځي او دهغوی د استخباراتي معلوماتو له مخې عملیات کوي.

مجاهدین باید د دغو بې رحمه توپکیانو ټکولو او له هغوی څخه د معصومو وینو انتقام اخیستلو ته جدي توجه وکړي. مجاهدین باید لومړی د دغو وحشي خواکونو مراکز پیدا او بیا یې په داسې دول په نښه کړي چې درانه تلفات ورواوړي، دهغوی په مراکزو باید درانه موټربم بریدونه او فدایي عملیات ترسره شي. دغه راز په کلیو او ښارونو کې چې هرڅوک له دغو خواکونو سره تړاو لري باید تر نورو مخکې په نښه او له منځه یووړل شي.

مجاهدین چې کله ناکله عسکرو ته عفو کوي باید د دغو درې ګونو قواوو له اعضاوو سره استثنایي چلند وکړي، هغوی باید د عفوی له فرمان څخه مستثني وي، خکه دوی د ټولو اولسي غمیزو اساسي عاملین بلل کیږي او د زرګونو بې ګناه ولسي وګړو په وینو یې لاسونه ککړ دي. د دوی په ضد باید په پوخي، تبلیغاتي او استخباراتي برخه کې پراخ کار وشي. تر څو بیا څوک په دې خواکونو کې شمولیت ته زړه نښه نه کړي.

لکه څنګه چې په تیر اوولس کلن جهاد کې مجاهدینو ۱۴۰ زره خارجي اشغالګرو پوځیانو ته شکست ورکړ، د مرین خواکونو، امریکایي سپیشل فورس او بلک واټر په شمول یې قسماقسم پوځیان د جګړې په ډګر کې خرمخي کړل، دغه راز یې د اربکیانو، محلي پولیسو او نظم عامه په نوم بیلابیلو داخلي خواکونو ته هم شکست ورکړ او ټولې پوځي ستراتیژۍ یې ورناکامې کړې. مجاهدین که د داخلي سپیشل فورس، صفر یک او ضربتي خواکونو په وړاندې جدي او پریکنده جهادي مبارزه وکړي نو د الله تعالی په نصرت سره به دغه د یرغلګرو پیښ خدمتان هم د خپلو اسلافو په شان هلاک او افغان اولس به یې له آزر او اذیت څخه خلاص شي.

و ماذلک علی الله بعزیز

د ټرمپ ستراتيژي په مقابل کې د طالبانو ځوابي تکتيکونه

معين احمد (معين)

لـه تيرکـال اګسـت مياشـتې راهيسې چې په افغانستان کې د جهادي فعاليتونو د ننګونې په خـاطر د ټرمپ جګړه ييزه ستراتيژي اعلان شوې مجاهـدينو د هغې په مقابل کې داسې متبـادل بريـالي تکتيکونـه پيل کړي چې د هغو په وسيله يې هـم خپـل ځـان د دښمن له بريدونو ژغورلی او هم يـې بالمقابـل دښـمن ته د سر او مال درانه تاوانونه اړولي دي.

د ټرمپ جنګي ستراتيژي چې ډيـر ترکيـز يـې په پوځي بريدونو ، د بمباريو تشديد، په پـوځي ډګـر کـې امريکـايي قومنـدانانو تـه د اضـافي جنګـي صلاحيتونو ورکول او پر هغه سر بيره يې له تبليغاتي او اجتماعـي پلـوه د مجاهـدينو پـر وړانـدې داسې حربـې کـارول چـې د خپـل ولـس پـه وړانـدې پـر (مغلوب) ښکاره کړي .

د امريکايانو د دغو تکتيکونـو لـه جملې ځخـه د کابل رژيم د مشر اشرف غني لخوا اسلامي امارت ته د سولې ځو فقره يې وړاندېز او دهغه پـه تعقيـب پـه تيـر کمکي اختر کې د اوربند وړانديز کـول و چـې اسلامي امارت د دښمن دغـه دوې تبليغـاتي او سـياسي حـربي په خورا حکمت او مهارت سره ناکاره کړل.

اسلامي امارت د اشرف غنـي د سـولې د هغـه وړانديز په مقابل کې په کوم کې چې لـه تورليسـته د امارتي چارواکو د نومونو ليري کول، په کابـل کـې ديوه سياسي تنظيم په حيث د فعاليت اجازه ورکول او نور ډير مواد شامل و ځـان نـاخبره واچـاو او هغـه پـه دې خـاطر چـې نـه يـې اشرف غنـي د دغـو صلاحيتونو وړ باله او نه يې هم دا دومـره قربـاني د دې لپـاره ورکـړې چـې فقـط دوی پـه کابـل کـې يوسياسي دفتر ولري او له هغـه ځخـه د اشـغال تـر سيوري لاندې خپل فعاليت جاري وساتي .

او د اوربند په مقابل کې يې چې اصلا د ښمن له هغه ځخه د فشار د يوې کاري وسيلې پـه حيـث کار اخيست داسې تکتيـک وکـاراوه چـې پـه پـوځي سياسي او تبليغاتي لحاظ ډير د مجاهـدينو پـه ګټـه تمام شو .

مونږ غواړو دلته ځيني هغو برياوو ته ځغلنـده کتنـه وکـړو چـې لـه دغـه ځـوابي تکتيـک ځخـه مجاهدينو تر لاسه کړې.

د جهادي قيادت د وحدت مظهر

د اوربند د تنفيذ له پيل نه د هغه تر وروستۍ شيبې پورې په ټول هيواد کې هغه پـه داسې ډول د مجاهدينو لخوا عملي شو چې د دښمن ټول هغـه تبليغات چې د مقاومتي جهتونو د تعـدد پـه اړه يـې کـول بې اساسـه او پـه ټـول هيـواد کـې د جهـادي فعـاليتونو موقـت توقـف دا ځرګنـده کـړه چـې د مقاومت قومنده واحده او د قومنـدې صـادروونکی جهت يې هم واحد دی.

پر دې سربيره په يوه ورځ په ټول هيواد کـې د داخلي ځواکونو خلاف د عملياتو توقف او د اوربنـد

تر ختمیدو سمدستي وروسته هم مهاله په ټول هیواد کې د جهادي عملیاتو بیا ځلي پیل کیدل د مجاهدینو د اطاعت هیښوونکی مظهر دی.

د مجاهدینو له ظهور څخه د دښمن تأثر

په پلازمینه کابل او د هیواد په لویو ښارونکې د مجاهدینو منظم او مسلح ظهور د اوربند بله هغه لاسته راوړنه ده چې دښمن یې په پوځي او تبلیغاتي لحاظ تر سختې اغیزې لاندې راوستی.

په کابل کې د مجاهدینو له مسلح او منظم ظهور څخه د دښمن د تأثر یوه ښه بیلګه د اوربند په دریمه ورځ د کابل په لویدیځ کې د رژیم د کورنیو چارو وزیر ویس برمک له هغه وضعیت نه ښه څرګندیږي چې له یوه ډیر کشر- مجاهد سره د مخامخ کیدو په مهال یې هغه ته په مکرر ډول د توحید کلمه تکرار او هغه ته یې بیابیا ویل چې مونږ هم مسلمانان یو.

د کورنیو چارو د وزیر په توګه د ویس برمک دغه نادر موقف له دې پرته چې د مجاهدینو له پوځي ظهور نه متأثر شي بله هیڅ توجیه نه لري.

په پلازمینه کابل او د هیواد په لویو ښارونو کې د مجاهدینو منظم ظهور په حقیقت کې د هغوی هغه پوځي نمایش و چې هم یې امریکیان او هم د اخلي ملاتړي له هیښتیا سره مخ کړل.

ځکه یاد مجاهدین په داسې لوړ فاتحانه مورال سره کابل او نورو لویو ښارونو ته داخل شول چې هلته د میشتو یرغلګرو او د هغوی د داخلي ملاتړو د شتون یې هیڅ پروا ونه کړه.

د جهادي تسلیحاتو په اړه د غرضي تبلیغاتو خنثی کیدل

مجاهدینو په دې پوځي مانور ډوله ظهور سره ټول هغه تبلیغات او پروپاګنډ ناسم ثابت کړل چې دښمن به د هغوي د یوځي تسلیحاتو په اړه کول چې مجاهدینو له بهرنیو هیوادونو څخه نوې وسلې او پوځي تجهیزات تر لاسه کړي.

ځکه مجاهدین له هغو وسلو او نقلیه وسائطو سره ښارونو ته داخل شول چې دوي په مخامخ جګړو کې له امریکایانو او د هغوی له ملاتړو نه غنیمت کړې وي.

په ډیر منظم ډول او لوړ محاربوي مورال سره ښارونو ته د مجاهدینو داخلیدو دا هم په اثبات ورسوله چې هغوی ټول د سیمې اوسیدونکي غیرتي ځوانان دي چې له اسلام او هیواد څخه د دفاع په لاره کې یې د جهاد او سرښندنې لاره نیولې او د عیش او عشرت په ځای یې په غرونو او جهادي سنګرونو کې له ستونزو او کړاوونو ډک ژوند غوره کړی دي.

همدا راز مجاهدینو وکړای شول ښارونو ته په ورتلو سره د دښمن د پوځي مراکزو لاره او ګودر ځانته معلوم کړي، چې له دې تکتیک نه په استفادې سره یې له پلازمینې کابل نه نیولې تر کندهار، غزني او نورو ډیرو ښارونو پوري مجاهدینو تر اوربند تیریدو وروسته هلته د دښمن په خلاف ښه موثر عملیات تر سره کړل چې په کابل ښار کې د سي ای آی د یوه تر ټولو تکړه ایجنټ عزیز الله کاروان وژنه یې یوه ژوندۍ بیلګه ده .

دامریکایانو شاګرځ مو ولید !!؟

خبیر احمد مجاهد

نیږدې ۱۸ کاله وړاندې کله چې دبشریت اواسلام دښمنانوامریکایانودافغانستان داشغال لپاره متې بډو هلي عالیقدرامیرالمومنین ملامحمدعمر مجاهد (نورالله مرقده) یرغلګرو امریکایانوته په خطاب کې وئیل : افغانستان ته به پریمانه لښکري اووسلي راوړی، ښارونه به ونیسی اودلته به ولسونوته ځور اومرګ ژوبله وروړوی ؛ خو دا خبره په یاد ولري چې افغانستان هضمولای اودځان کولای نشی دلته به ستاسې په مقابل کې له غرونو ، رغونو اواطرافو څخه بیرته دجهاد محکمې جبهې اومرکزونه له سره جوړېږي او د افغانستان لویشت لویشت ځمکه به درته د مقاومت سنګرونه ګرځي .

دمرحوم ملاصاحب له تصور اوجهادي پیشبینی سره سم ټرامپ په داسې حال کې چې په خپلې متکبرې ستراتیژی یې خاوري واړولې اوهغه یې ناکاره اونامراده وبللې اوس دادی امریکایانواوهم خپلوغلامانوته اعلانونه کوي چې له لیري پرتو اوکلیوالو سیموڅخه ژرترژره خپلې پښې سپکې اوپه حساب دځوولایتونوښارونودفاع اوساتني ځانونه چمتوکړي.

نیویارک ټایمز دیوشمیرامریکایي چارواکو اومبصرینوله قوله ویلي معقولیت اونجات په دې کې دی چې که ټول افغانستان نشي ساتل کیدای دلویوښارونولکه (کابل ، جلال اباد، کندهار، مزار، هرات) دحفاظت په خاطراړین ګامونه پورته کړل شي اومعقوله لاریې داده چې د ښارونو دساتلوپه خاطربائیدکلیوالي سیمې پریښودلی شي .

اخباردامریکایي جنرالانوله اړخه وایي دوئ باورلري چې ،« دټولوولایتونواومحلي سیمو ساتل پوره حماقت دئ. هلته هیڅ ستراتیژیکه ګټه نسته. پر محلي خلګو باندې هیڅ اثر نه لري. بس یوازې د افغان او امریکایي عسکرو مرګ تضمینوي !!!

دمتعال رب جل جلاله کارونواونصرتونوته ګوره هغه امریکاچې طالب اومجاهدته یې په افغانستان کې څه چې دنړۍ په هیڅ کونج اوکنارکې دژوند اوزندګی تیرولوحق نه ورکاوه

وئیل به یې چې یابه هغوئ تسلیمیږي اویابه وژل کیږي ؛ خونن دالله پاک په عظیم نصرت دنړئ دغه لوی طاغوت له خپلې ټولې دبدبې اویکتازی سره دهماغه خړي حجري خړاوننګیالي طالب اومیړني افغان مجاهد عظمت اوهیبت ته غاړه کږوي د۲ تریلنیوډالرولـه مصرف دپنځوسوزروامریکایی عسکروله مرګ ژوبلې اودنړئ دنمبر۱ جنګي ټیکنالوجی له هرډول استعمال اوتمرین باوجود دناتوانی اوشکست وزري ځندي (الحمدلله)

په رښتیاهم چې کلیوالي اومحلي سیمي ډیري مجاهدپروره اوشهیدپالي وي اودي؛ځکه همدغه دغیرت اوشجاعت ټاټوبي ووچې دطاغوت ټولو وحشتونو او یرغلونو ته یې ټټرونه اوسیني سپرکړي ، غرونه ، رغونه ، سیمي اودښتي یې لولپه کیدوته وړاندې کړي ؛ خود مجاهد او طالب دحق اوخپلواکی ګټلوناره یې سرپدو او خاموشه کیدوته پرې نښوده ،زمونږسربکفه کلیوال قشر دخپلو اولادونو نذرانه کولو او دخپلو شتمنیو قربانولو ته چمتو شول په خپلو سرونو یې دامریکاخرواروته بمونه ومنل اوکرغیړني چاپې یې تحمل کړي ؛ ولې افغاني غروراودیني جذبي یې اجازه ورنکړه چې له طالب اومجاهدځخه تیرشي ، په کورکې ځای ورنکړي اویایې له مرستي اومعاونت ځخه مخ واړوي.

دادی نن یې ستره ټمره اوډاګیزه نتیجه دسرپه سترګووینوچې امریکااوناټو په کومه شرمندګی اوپیغورچمتوکیږي چې یواځي پنځه لوی ښارونه ټینګ کړي اوهلته پناه وروړي ، نورولایتونه اوسیمي په دې پلمه چې هغه محلي اوکفرشکنه ځمکي اوسیمي دي اودرانه تلفات یې پکې ویني اونوریې شپه هلته نه سباکیږي ترینه کډه کوي .

امریکایان چې نن دلیري پرتوسیموځخه دفرار اوتیښتي کوم برخلیک اوانجام ته اماده ګي ښیي داپه خپل ذات کې تنها له اطرافي سیموځخه شاګرځ اوپرشاتګ ندی ، بلکې تاسې به دالله پاک په نصرت ووینې چې له ټول افغانستان ځخه به دوئ خپله کرغیړن لمن ټولوي لوی اووارِه ښارونه به یویوپریږدي اوورستی تیښتي اومنډې ته به ځانونه برابروي

نواوس هغه شیبې رارسیدلي چې داسلامي امارت دموسیس دجهاد اوخپلواکی ګټلو دسترمبارز مرحوم ملامحمدعمرمجاهد (رحمه الله تعالی) ولایت اوعظمت ته دعقیدت بهترینې نذاراني وړاندې کړل شي اوورته ووئیلي شي چې لوی ملاصاحب ! ستاله برداشت اوپه الله تعالی دټینګي بروسي اوارزو سره سم دادی خبره هماغه ټکي ته راورسیده کوم چې تا ۱۸ کاله وړاندې بوش اودبوش پیروانوته کړي وه چې په افغانستان به یرغل راوړی ، سیمي به ونیسي خوددیروخت لپاره یې ساتلی اونیولی نشی .

که دا جګړه بين الافغاني وي

نو د جنرال نيکلسن سرشتي ورکې د څه لپاره دي؟!

شاهد (غزنيوال)

د جدي او مکي مکرمي په وروستيو غونډو کې چې په افغانستان کې د روانې جګړې په اړه جوړې شوې وې يادې جګړه ورکې نا مشروع بين الافغاني جګړه وبلل شوه.

خو له يادو غونډو را وروسته د هيواد په داخل د خوست، لوګر، ننګرهار، پکتيا او کندوز ولايتونو کې په پرلپسې ډول امريکايي ځواکونو دومره مسلسل بريدونه وکړل چې خپله د دولتي چارواکو په اعتراف يې له املې يې په سلګونو ولسي خلګ شهيدان او ژوبل شول.

که څه هم چې ارګ او سپيدار مانيو د امريکايانو په دغو بريدونو هم د نورو هغو په څير خاموشي اختيار کړه، خو د افغانستان د بشري حقونو کميسيون او همدارازپخواني ولسمشر حامد کرزي ياد بريدونه او په هغه کې د بيوزله ولسي وګړو عام وژنه بشري جنايت وباله او له هغوي څخه يې وغوښتل چې د بيوزله افغانانو له وژنې لاس واخلي.

د لوګر، ننګرهار، پکتيا او کندوز پر کليوالو سيمو باندې د امريکايانو پربمباريو سربيره په افغانستان کې د هغوی ګل اختياره چارواکی جنرال نيکلسن د افغانستان په سياسي او پوځي چارو کې د ښکاره مداخلې په اړه داسې څرګندونې کوې لکه همدی چې د افغانستان بلا منازعه تولواک وي.

نومورې هيواد ته د دوستم له بيرته راستنيدو نيولې، له طالبانو سره تر راتلونکي اخترېز اوربند، د انتخاباتو لپاره د نوم ليکنې کمرنګې او په هيواد کې د داعش په خلاف د پوځي عملياتو په شمول پر ټولو هغو موضوعاتو کومې چې د افغانستان د دولت له صلاحيتونو څخه دي داسې څرګندونې لري لکه خپله چې دی د افغانستان ولسمشر او باصلاحيته تولواک وي.

دا خبره به مونږ دلته نه څيړو چې د افغانستان واکمن ولسمشر جنرال نيکلسن دی او که ښاغلی غني؟

بلکې غواړو دلته يواځې دا پوښتنه مطرح کړو چې که واقعا هم دلته جګړه بين الافغاني وي نو بيا د ښاغلي نيکلسن دغه حاکمانه

څرګندونې څه ډول توجیه کیدای شي؟

جنرل جان نیکلسن نن په افغانستان کې کټ مټ د پال بریمر رول لوبوي کوم چې په ۲۰۰۴ کې د امریکا لخوا د صدام حسین د حکومت تر نسکوریدو وروسته د عراق امریکایي واکمن شو او ټولې ملکي او پوځي چارې د ده تر نظارت لاندې سرته رسیدې.

سره له دې چې نن جنرال جان نیکلسن د افغانستان د داخلي او بهرنیو چارو کل اختیار دی خو بیا هم د افغانستان په اصطلاح د علماوو شورې او هم د نیکلسن په دستور راټول شوي د جدې او مکې د غونډو برخوال په افغانستان کې د امریکایانو خلاف جهادي مقاومت بین الافغاني ناروا جګړه بولي.

که چیرې جنرال نیکلسن او د هغه تر قومندې لاندې تر ۱۵ زره زیات امریکایي پوځیان افغانان وي بیا ریښتیا هم چې دا جګړه بین الافغاني او باید طالبان همدا نن دا جګړه ودروي.

او که جنرال جان نیکلسن او د هغه په لسګونو زره پوځیان، په زرګونو پوځي ټیکداران او په سلګونو مشاورین امریکایان او د بې ۵۲ تر بمونو لاندې پر افغانستان پوځي یرغل کړی وي او بیا هم له هغوی سره د افغانانو مقاومت بین الافغاني نامشروع جګړه بلل کیږي دا نو بیا د کابل، جدې او مکې د غونډو د برخوالو له استحمار، حماقت او سفاهت پرته بل هیڅ توجیه نه لري.

څکه هغه جګړه چې تمویل او تجهیز یې د امریکایانو او د افغانستان په داخل کې یې پوځي قومنده د امریکایي جنرال جان نیکلسن په غاړه وي، دهیواد د داخلي او خارجي سیاست راهنمایي هم د هغوی په دستور وي هغه نه د عقل او نه د منطق په لحاظ بین الافغاني بلل کیږي، بلکې هغه د ټولو سیاسي او پوځي قوامیسو له نظره بربنډ اشغال بلل کیږي.

څوک چې هغه بین الافغاني جګړه بولي هغوی اصلا د مادیاتو په مقابل کې د عقل، منطق او افغاني بصیرت حس له لاسه ورکړی دی.

ایا په امریکا باور کیدای شي ؟؟

ارمان

په وروستیو کې داخبرخپور شوچې دامریکا د ولسمشر دټرمپ په حکم بهرني او کورني امریکا یې عسکردهیواد اطرافي یا کلیوالې سیمو څخه ویستل کېږی اودلویو ښارونو په دفاعي کمربندونو کې ځای پرځای کیږي.

ددینه وړاندې مشهورې ورځپاڼې (نیویارک ټایمز) دا خبر خپور کړی و چې دامریکا دبهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیالې الیس ایلز د قطر په پلازمینه دوحه کې دطالبانو(اسلامي امارت) له سیاسي استازو سره مخامخ لیده کاته کړي او ورسره په یوشمیر مسائلو غږیدلې، چې د لویدیځوالوځینو رسنیو او کارپوهانو لخوا دغه ګام مثبت او اړین بلل شوی اوپه راتلونکي کې په دوام یې ټینګار شوی دهغوی په اند: اړتیاشته چې امریکا د هغو مسائلو په اړه چې مخامخ په امریکا پورې ارتباط لري دطالبانو سره مخامخ خبرې وکړي څو کومې حتمي پایلې ته درسیدو رښتینې لارې چارې معلومې کړې

اودبرتانیې یوې مهمې ورځپاڼې (ډیلي) خو دیو شمیر امریکایې سیاسي چارواکو له قوله انکشاف کړی چې: ولسمشر ټرمپ دافغان جګړې په باب خپله حوصله بایللې اوپه نیږدې راتلونکي کې اندیښنه شته چې هغه له افغانستانه عسکر وباسي ، نولیوال دی چې دطالبانو سره داړیکو په غځولو سره یو نسبي جوړجاړي ته ورسي دیادې سرچینې په قول: امریکاته په افغانستان کې دخپلو عسکرو دویستلو وروسته دافغانستان دامنیت موضوع اهمیت لري غواړي په اړه یې دطالبانو دریځ هم واوري

د سیمې دچارو کتونکو په باورامریکا پخپلو لاسپوڅي رژیم مطلقاً خپل اعتماد بایللی او له هغوی یې زړه تور شوی داچې دامریکا ددې نوي ګام په وړاندې به دکابل رژیم عکس العمل څه ډول وي؟ دهغوی په نظر: دکابل اوسنی رژیم دامریکا غلام رژیم دی ، هغه په هرکار کې دامریکا دحکم منلو پابند دی امریکا چې دافغانستان دکلیوالو او اطرافي سیمونه دځواکونو دویستلو په اړه کومه پریکړه کړي اشرف غني مجبور دی چې پرته له کوم ځنډ څخه یې تعمیل وکړي ځکه د ټرمپ په حکم دافغانستان ددفاع وزرات ته بودیجه ورکول کېږي ، هغه عسکرچې دښاره دباندې دنده سرته رسوي معاش یې امریکا ورکوي کله

چې امریکا یې معاش ورکوي مجبوردي چې حکم به هم دچون چرا پرته دامریکا مني نوپه دې منځکې نه د اشرف غني حکم چلیږي اونه دکوم بل شخص !

البته ضرور ځیني شنونکي له دې پلوه اندیښمن دي چې دامریکا ددي حکم اصلي موخه نده روښانه چې واقعاً غواړي په اطرافي سیمو کې خپله انرجي بې ځایه مصرف نکړي اوغواړي چې دښارونو دامنیت لپاره قوي کمربندونه جوړکړي که ددې ترشاه کومه بله خونړۍ ستراتیژي یې په پام کې نیولې؟ طبعي ده چې هرکله دکلیوالو سیمواو اطراف ځخه بهرني او کورني امریکایې ځواکونه ووځي دهغوی پاتې سنګرونه او پوستې به دکوم خاص مقاومت پرته دطالبانو لاس ته ورځي چې په ښکاره داکار د سیاسي او پوځي لحاظه دهغوی دبري په معنی دی!خو اندیښنه شته چې امریکا دغه له وړاندې جې یې ایس کړې سنګرونه او پوستې په داسې هستوي وسلو بمبارد کړي چې له امله یې په پراخه کچه زیانو نه پیښ کړي او دطالبانو دځواک لپاره ملاماتونکي ګذارونه ثابت نشي اوله نه جبرانیدونکو طیانونو سره مخ نشي په دې وجه هغوی سپارښتنه کوي چې طالبان روان وضعیت محض سرسري ونه ځاري بلکې په ښه دقت سره یې مطالعه کړي ځکه امریکا یوداسې شیطاني هیواد دی چې په هیڅ لوی نه لوی وحشت او بشري جنایت هم شرم او خجالت نه محسوسوي دامریکا ټول تاریخ ددغسې جنایتونو شاهد دی په ۱۹۴۵ زکال کې یې په جاپان باندې په داسې وخت کې اتومي بریدونه وکړل چې جاپان ورته وسله په زمکه غورځوله!!خو هنوز امریکا داګست په ۶مه نیټه (۱۹۴۵ز) دبې ۲۹ طیاري ځخه « لټل بوای» په نوم اتوم بم دجاپان په هیروشیما ښاربانديې وغورځاوه چې دچاویدو لږ وروسته پکې زرګونو انسانان مړه شول او بیا یې په دې هم بسیا ونکړه درې ورځې وروسته بې یعنې داګست په ۹مه نیټه (۱۹۴۵ز دوهم نړیوال جنګ په مهال) دجاپان په صنعتي ښار ناګاساه باندې دوهم اتومي بم وغور ځاوه چې هلته یې لږ ترلوه پنځه اویازره کسان مړه کړل حال داچې درې وړاندې یې په هیرو شیما کې یولک ځلویښت زره کسان مړه کړي وو او په ځاني زیانونو سربیره یې دجاپان اقتصاد ته ۵۶ ملیارده ډالر زیان ورساوه دځایې وخت په حساب اتوم بم ناګاساه ښارکې په یوولس بجو او دوه ثانیو وچاودیده اوورسره دناګاساه دیرش سلنه برخه ویجاړهاو رنګه شوه اوټوله صنعتي ښار پر زمکه بل مخ پریوت او دژوندي پاته شویو خلکو په تنو سخت ژور زخمونه جوړوو

رازو دیته چې په امریکا باور د اجتماعي ځان وژنې مرادف عمل دی امریکاشیطاني ماغزه لري ددې تازه ګام ترشاه یې ضرور کوم بد هدف ټاکلی باید طالبان ورته متوجه اووسي هیڅکله بې احتیاطي او لاپرواهي

ونکړي د دوی یوه ادنی تیروتنه او لاپرواهي دنه جبرانیدونکو زیانونو درامنځته کیدو لامل کیدای شي

یوځایي تجمعاتو او غونډو وډه وکړي اوله بیرنیو پرمختګونو هم په شاه شي په تدریجي شکل عادي پرمختګونه تنظیم کړي.

کله چې دهغوی څخه پاتې پوستو او سنګرونو ته ورځي له مختلفو جهتونوارزونه وکړي چې د دوی ورتلل هلته کومې عمده لاسته راوړنې هم لري که محض دوی څو کیلومتره سیمه ترخپلې ولکې لاندې راولي که عمده ګټې اولاسته راوړنې هم نلري ستراتیژک اهمیت یې هم ډیر نه وي باید هلته په ورتلوکې بیړه ونکړي ، دامارت مشران په دې اړه یو بنه ظم او ډسپلین رامنځته کړي اود یو خاص پوځي میکانزم له مخې کوښښ وکړي چې دښمن مجاهدینوته کوم تاکتیکي ګټار ورنکړي ددې ترڅنګ خالې کړوسیمونه امریکا ته دبیرته راتګ لپاره کومه نوي پلمه او بهانه هم باید په لاس ورنکړل شي چې هغه بیا پخپله پریکړه له سره کتنه وکړي په دې لړ کې دعام ولس رایه ډیرارزښت لري دسیمو او کلیوله مشرانو، مخورو او علماوو سره مشورې او دهغوی خبروته غوږ نیول به خوراګټه ولري دهرهغه ګام پورته کولو نه ډاډه کول چې دعام ولس دخفګان او ناراضایت سبب ګرځي

داچې امریکا او دکابل رژیم اراده لري چې په بیرته مناطقو کې د اربکیانو جوړولو پروسې ته دمحلي اردو نوم ورکړي طالبان باید داپروسه هم دملت په مټ شنډه کړي او ورته بې ناخولې او زیانونه په ګوته کړي او بنکاره ده ولس له وړاندې څخه داربکیانو څخه بدې خاطرې لري او دظلمونو څخه یې نور په دوه پوزو راغلي خامخاچې شاه ته ډاډ ولري داربکیو په وړاندې پورته کیږي او مخالفت یې کوي ...

امارتي مسؤلين

د دفاع په لومړني مورچل کې

احمد مختار

د روان کال د چنګابښ د میاشتې په ۳۱ نیټه د کاپیسا ولایت والي ملا محمد نسیم (مشفق) له دښمن سره د مقابلې په لومړي کرښه کې له خپلو نورو دریو تنو ملګرو سره یوځای شهید کړل شو.

تقبله الله ویحشره الله مع النبیین والصدیقین والشهداء والصالحین ، امین.

شهید ملا محمد نسیم (مشفق) د اسلامي امارت لومړی جهادي مسؤل نه دی چې له اسلام، عقیدې او خاورې څخه د دفاع په معرکه کې له یرغلګرو امریکایانو سره په مواجه کې شهید کیږي ، بلکې تر ده وړاندې هم د اسلامي امارت په تشکیل کې لوړ پوړي اداري او پوځي چار واکي له یرغلګرو امریکایانو سره د مقابلې په لومړی کرښه کې په خورا میړانې او شهامت سره شهیدان شوي دي.

د دغو جهادي سر ښندونکو له جملې څخه لومړنی مسؤل ملا سیف الرحمن (منصور) ، شهید مولوي اختر محمد (عثماني)، مشهور جهادي اتل ملا داد الله ، مولوي دوست محمد او ملا عبدالسلام (بریالی) یې د مشت نمونه یې خروار په ډول د یادولو وړ دي.

له دې پرته خپله شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد (منصور) رحمه الله هم د امارت د لومړي نمبر زعیم په توګه همداسي خپله سینه د خپل دین، وطن او ولس څخه د دفاع په لاره کې د دښمن ګوزار ته سپر او پاکه روح یې د الله په لاره کې قربان کړه .

همدا شان د فعلي امیر المؤمنین شیخ هبة الله صاحب زوی حافظ عبدالرحمن هغه څوک و چې د نورو استشهادیانو په جمله کې یې پر دښمن استشهادي برید وکړ او په دې سره یې خپله خواني د اسلام د حاکمیت په لاره کې نذرانه کړه.

همدا راز د اسلامي امارت مرستیال خلیفه صاحب سراج الدین(حقاني) له خپل کور څخه څلور ورونه د اسلام د دفاع په لاره کې شهیدان ورکړي .

له دې ټولو وقائعو څخه څرګندیږي چې د اسلامي امارت چارواکي د قیادت او نیابت په شمول

ټول هغه څوک دي چې د اسلام او خاوري په دفاع کې يې قرباني او فداکاري له خپله خانه پيل کړي .

په لومړي قدم کې خپله امير المؤمنين دې سرښندنې ته ځان ور کړي ، وروسته بل امير المؤمنين همدا سرښندنه په خپل زوی باندې کړي او د هغه په تعقيب د امارت مرستيال د خپلو ځلورو وروڼو په قربانولو سره همدا د سر ښندنو لاره توده ساتلې ده.

د امارت له قيادت او نيابت وروسته په دوهم قدم کې ولايتي مسؤلين دي چې په تشکيلاتي لحاظ د ولايت په کچه لومړي نمبر مسؤلين ګڼل کيږي هغوي په تير ۱۷ کلن جهاد کې په مسلسل ډول قرباني ورکړي او د پورتنيو مسؤلينو په شمول نورهم ډير شمير ولايتي مسؤلين او دهغوي مرستيالان دي چې له دښمن سره د دفاع په مخامخ جګړو کې شهيدان شوي دي.

يعني په اسلامي امارت کې مسؤليت د مادي امتيازاتو په خاطر نه ، بلکې د جهاد په لاره کې د زياتې قربانۍ ورکولو لپاره دی چې څومره يې مسؤليت لوړ هغومره يې په جهاد کې د قرباني ورکولو او سرښندنې ګراف لوړ وي .

د داسې شانته لوړ پوړو مسؤلينو شهادت که څه هم چې په مادي لحاظ يوه ستره تشه ګڼل کيږي، خو په معنوي لحاظ د دوي له شهادت نه د جهاد نور لارويان د فداکاري ، سرښندنې او قرباني الهام اخلي.

د امارت د همدغو لوړ پوړو مسؤلينو شهادت د دې شاهدي ورکوي چې دا لاره حقه ده .

دا لاره چې هر چا انتخاب کړې هغوي د خدمت خلق الله لپاره انتخاب کړې ده .

په دې لاره کې مادي امتيازات هيڅ نشته ، خو معنوي امتياز يې دا دی چې تر بل هرچا به لومړی قرباني مسؤل شخص ورکوي او مسؤل شخص به تر بل هرچا وړاندې شهادت ، اسارت او جراحت ته تيار وي.

هو همدا د جهاد، مبارزې او دعوت د لارې تشخص دی چې تر بل هرچا وړاندې به مسؤل شخص د زياتو امتحاناتو او آزمايشتونو لپاره عرضه وي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم لومړنی شخص و چې د اسلام د حاکميت په لاره کې د خپل خوږ ټاټوبي (مکې مکرمې) پريښودوته اړيستل شو، د طائف په سفر کې د مشرکينو د آزيت مورد وګرځيده او د احد په جګړه کې يې مخ مبارک ټپي شو.

همداشان د هغه صلی الله علیه وسلم خلفاء راشدين او نور صحابه کرام د الله جل جلاله په لاره کې د قرباني ورکولو او فداکاري نمونې وو ...

د اسلامي امارت مجاهدين هم په صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعين او د امت په نورو اسلافو پوري په اقتداء کولو سره هغه اشخاص دي چې قيادي امتياز يې د زياتي سرښندنې او فداکاري ورکول دي نه د مادي امکاناتو تر لاسه کول.

بنا کردند خوش رسمي بخون وخاک غلطيدن

خدا رحمت کند اين عاشقان پاک طينت را ...

د چین مسلمانان

او د چین دولت د توجو وړ څو ټکي

حسن زوی

د لوي نفوس او لوي جغرافي لرونکی هېواد چین چې اوس په نظامي لحاظ دنړۍ دسترو عسکري طاقتونو سره سیالي برابره شوې او اقتصادي پرمختګ یې له بل هر چاتېز دی که یې بهرنۍ کړنلاره دامریکا او نورو لویدیځوالو زبر ځواکونو کړنلارې ته ورته وای نو زموږ په څېر وړو او کمزورو هېوادونو سره ګاونډیتوب به یې ډېر دخطرونو او اندېښنو ډک وای خو له نیکه مرغه چې دچین بهرنۍ پالیسي- دامریکا او نورو لویدیځوالو غاصبو هېوادونو په څېر نده نو دچین سره زموږ په څېر ګاونډي او دسیمې نور کمزوري هېوادونه یې سمدستي دشر نه خوندي دي.

چین دنوروهېوادونو په کورنیو چاروکې مداخلې نه کوي او نه هم پرهېوادونو یرغلونه کوي بلکې خپل صنعت ، زراعت تجارت ته وده ورکوي او دټولې نړۍ سره دښو روابطو له لارې خپلو ارزانو مصنوعاتو ته په نړۍ کې مارکیټونه پیدا کوي.

چین کې نظام کمونستي دی او داوسېدونکو قاطع اکثریت یې دهریان دي ځکه خو دچین نه بېرون دچاسره ددین او مذهب پربنسټ دښمني نه کوي نو ترې دنړۍ مسلمانان هم پدې اړه وېره نه لري او مطمئن دي چې چین زموږ دین او کلتور ته دضرر رسولو ارادې او شوم پلانونه نه لري او نه ترې تراوسه داسې کوم حرکت ترسترګو شویدی چې په حتمي ډول په اسلام دښمنۍ تعبیر شي.

خو په چین کې دننه چې ددولت له لورې دچین دمسلمانانو سره کوم له حده زیات ناوړه سلوک کېږي نو لړلیک یې ډېر اوږد او خورا له درد او اندېښنو ډک دی چې په عام محضر- کې دمسلمانو مېرمنو لباس پرې کول او دعامو خلکو پروړاندې یې توهین ددې لړۍ یوه نوې کړۍ ده.

دبرتانې په یوې مشهورې جریدې بزنس انسایډر کې پدې اړه یو خپور شوي مضمون کې راغلي دي چې دچین پولیس او امنیتي ځواکونه دسرکونو په سر او بازارونو کې په چین کې دترټولوسترې یوغورقبېلې سره تړاو لرونکو مسلمانو مېرمنو توهین کوي.

پولیس او نور امنیتي ځواکونه دسرکونواولاړو په سر ټولې هغه مسلماني یوغوري مېرمنې ودروي چې ددینې لارښوونو سره برابر اوږده قمیصونه یې پرتن وي ؛ ددوئ دخپل کلتور اوددیني لارښوونو سره برابر دا اوږده قمیصونه په قینچي پرې کوي او دقمیصونو همدومره پورتنۍ برخه یې پرېږدي چې یې پرې ملا او خیته پته وي.

امنیتي ځواکونه په ډېرو سختو ټکومسلماني مېرمنې داسلامي لارښوونو سره سم دهرداسې لباس په تن کولو نه منع کوي چې پرې ټول بدن پټېږي او چې داسې مېرمن ومونډل شي نو اوږده قمیصونه یې په قینچۍ پرې کېږي چې له دې امله چینایې مسلماني مېرمنې دسختې وېرې ښکار شويدي.

نوموړې برتانوی ورځپاڼې دداسې مېرمنو عکسونه هم خپاره کړيدي چې پولیس یې په عام محضر کې دګڼو خلکو تر مخه قمیصونه پرې کوي .

ورځپاڼې هم منلی ده چې دا په چین کې داسلامي هویت دختمولو په لړ کې یونوی جدي اقدام دی.

یوې یوغوري مسلماني مېرمنې دنوم نه څرګندولو په شرط یادې جریدې ته ویلې دي چې هغه بازار کې روانه وه چې پولیسو ونیوله او دهغې داوږد قمیص نیمه لاندینۍ برخه یې پرې کړه او ورته یې وویل چې په چین کې که اوسېدل غواړې نو باید دنورو عاموچینائې مېرمنو په څېر وه اوسېږې؛بیا یې راته ګوابنې وکړ چې که بیا دې داسې قمیص پرتن کړ درته به تاوان ورسوي.

دیادې جریدې ځانګړي نماینده ویلي دي چې دزنجیانګ په لسګونو مېرمنو محاکمو ته پدې اړه خپل شکایت وړاندې کړ خو محاکمو ددولت دپرېکړې ننګه وکړه او ویې ویل چې چینایې مېرمنې اجازه نه لري چې اوږده کمیسونه یا بوکړې پرتن کړي؛باید چینایې مېرمنې بنیان او نیکر یا پتلون پرتن کړي چې همدا دچین کلتور دی.

بل لور ته دیوغور مسلمانانو دورلډیوغور کانګریس نومي تنظیم ویاند دلشادراخشنت (چې دتنظیم دنورو مشرانو په څېر دهېواد نه تبعید شوی)دچین ددولت دا عمل یې په سختو ټکو غندلی دی اوویلي یې دي چې دا دچین دمسلمانو مېرمنو سخت توهین دی؛هرځوک حق لري چې دځان لپاره پخپله خپل لباس منتخب کړي؛دچین پولیس دا حق نه لري چې مسلمانو چینایې مېرمنو ته دا وروښایې چې دوئ بایدځه ډول لباس پرتن کړي؟

برتانوی جریدې ډیلي ټیلیګراف هم دمسلمانو چینایې مېرمنو پروړاندې دچین دپولیسو او امنیتي ځواکونو ددې بد سلوک تصدیق کړی؛په نوموړې جریدې کې پدې اړه خپور شوي راپور کې راغلي دي چې له تېرو ۴ میاشتو راهیسې دچین دولت دیوغور مسلمانانو پرضد سختو اقداماتو ته زور ورکړیدی؛دجوماتونو امامانو

ته يې دډېرو خريلو حکم کړيدی؛دجوماتونو سره دتړلو ټولو مدرسو دتړلو فرمان يې صادر کړيدی او د ۱۷ کلونو نه دکم عمر لرونکي هلکانو او جنکو ته دناظره قرآن کريم ويلو اجازه يې هم لغوه کړيده .

دولت امامانو ته حکم کړيدی چې له دې بعد به په عربي نه بلکې چينايې ژبه دجمعې خطبه ورکوي ترڅو پرې پوليس او امنيتي ځواکونه پوه او له ځان سره يې ثبت کړي.

امامانو ته دا حکم هم شوی چې په جومات کې دننه دخطيب دممبر سره په څنګ کې به دچين بيرغ ګدي او دممبر سره نېږدې دقبلې پردېوال لمونځ کونکو ته مخامخ به دچين ملي ترانه ليکي او دمخالفت په صورت کې به جومات بندېږي او امام به زندان ته لېږل کېږي.

يوغوري مسلمانان وايي چې سږ کال دچين دولت دمکاتبو او پوهنتونو زدکونکي او په نورو دولتي ادارو کې کار کونکي روژې نيولو ته ندي پرېښي؛جبراً يې کانتينونو ته راغوښتي دي؛خورلو او څښلو ته يې اړ کړي او روژه يې پرې ماته کړيده.

بزنس انسايډر نومې جريدې دا هم ليکلي چې په سونو زره يوغوري مسلمانان پدې نوم زندانونوته وړل شويدي چې دوئ ته دچين کلتور وروښودل شي او دچين دټولنيزو اصولو سره سم په چين کې دژوند تېرولو نه خبر کړای شي.

دچين دپوليسو له لورې ديوغوري مسلمانو مېرمنو دکميسونو دپرې کولو عکسونه ريډيو فري ايشيا نومې چينل خپاره کړيدي او ويلي دي چې دچين دولت دیادو اقداماتو له لارې د ۱۵ ميليونو يوغوري مسلمانانو ديني هويت له منځه وړل او مذهبي ازادي يې ختمول غواړي؛چين ديوغوري مسلمانانو په هرې کوڅې کې کمرې نصب کړيدي ترڅو ددوئ هرنقل حرکت تعقيب کړي چې دې کار په ټولو يوغوري مسلمانانو کې سخته وېره خپره کړيده.

چين چې دچاپه کورنيوچارو کې له مداخلې ځان ساتي اودنورو ملتونو سره دمذهبي اختلاف له امله دښمني نه کوي دا دچين ښه پاليسي ده خو دچين حاکمانو کې يولوی نقصان دادی چې دبهر نړۍ دحالاتو ، تحولاتو ؛ سياسي بدلونونو ؛ په نړۍ کې دجنګونواوبدو حالاتو درامنځته کولولپاره دلويوزبرځواکونودهلوځلواو شوموپلانونو اوله دې لارې دخپلو اهدافو پوره کولو اوداسې نورو نړيوالو خبروته هغومره اهميت او توجو نه ورکوي څومره چې پکار ده نوخپلې پرېکړې اوعملي اقدامات چې کوي هيڅ يې په خيال کې داپوښتنه نه راځي چې په بهر نړۍ کې به ددې اقدام يااپرېکړې عکس العمل اواغېزې څه وي ؟

ټوله اسلامي نړۍ دچين درقيبې امريکا نه سخته کرکه لري اوپدې پوهېږي چې په اسلامي نړۍ کې دجنګونو، بدامنيو او ټولو ناخوالو بنسټ امريکا ده خوبرعکس چين هيڅوک په اسلامي



نړۍ کې دجنګونو بدامنیواونورو ناخوالو لامل نه ګڼې نو ورسره دښمني هم نه کوي چې دادچې لپاره ډېره دګټې نه ډکه خبره ده خکه چې پدې سره اسلامي نړۍ دچين دمصنوعاتو لپاره ډېر ستر مارکیټ ګرځېدلی دی او په راتلونکي کې همدا اسلامي نړۍ دچين دپانګونې لپاره ډېر پراخه ډګردی نودچين ګټه پدې کې ده چې دداسې اقداماتونه ډډه وکړي چې تړې د اسلام اومسلمان دښمنۍ بوی هم راځي .

لړې به نه خو دچين په ګاونډکې دهند په نوم هېواد کې دهندوانو قاطع اکثریت دی خو د دوه نیم سوه ملیونو نه زیات مسلمانان هم پدې هېوادکې ژوندکوي ؛ دامسلمانان په لسګونه زره غټې او وړې مدرسې اوجوماتونه لري ؛ پدې مدرسوکې دمسلمانانوبچوته یواځې ناظره قرآنکریم نه بلکې ټول دیني علوم او فنون ورښوول کېږي ؛ دمسلمانانوپه مخونوړیږي هم وي ؛ مسلماني مېرمنې ستر اوپرده هم کوي ؛ مسلمانان روژې نیسي ؛ حج اوعمرې ته خې ؛زکاتونه اونورعبادتونه کوي اوخپل کلتور اومذهبي تشخص اوهویت یې هم ژوندی ساتلی دی خودې هیڅ هم هندته په امنیتي یابل لحاظ کوم تاوان نه بلکې دهند ددولت دخپلو اعترافونو له مخې یې ورته ډېرې ګټې رسولي دي نوچين چې امنیت ،پولیس او امنیتي ځواکونه یې په نړۍ کې ساری نه لري دکمواوکمزورو مسلمانانو لوی کمیسونه ، ډیرې، روژې او د قرآنکریم تعلیم به ورته څه تاوان ورسوي؟؟؟

هو ! دمسلمانانوپرضد اقدامات دچين لپاره په نړۍ کې دبدنامۍاو په مسلمانانوکې دمنفورکېدوسبب کېږي چې دا دچين لپاره ډېره دتاوان نه ډکه خبره ده ؛ نو اوس داپه چين ده چې په نړۍ کې ځان بدنام اومنفور خوښوي اوکه تړې ځان ساتي .

دوستم چا اوولې راووست!!؟

عبیدعزیز

لـــه ۱۴ میاشـــتینې تبعیـــد اوپاشـــرل کیدوورسته دجان کیري رژیم رومبی مرستیال اوپخوانی ګلم جم مشر- جنرال دوستم دیولږ خاصومراسـموپه تـرځ کـې اویـادیوي ځـانګړي معاملې له مخې بېر تـه کابـل تـه را ستون کـړل شو.

دوسـتم چـې څـه دپاسـه یوکـال وړاهـدې ظاهراً د یوه ازبک توکمه مشر (ایشچي) سره په ظلم زیاتي او اخلاقي تیري ککړ وپېژندل شو او بیا د کابل رژیم له لوري دیوې پټې معاملې لـه مخې ترکیې ته تبعید کړل شو او اوس بېرتـه پـه داسې حال کې را ستون کړل شو چې دا خلاقـي فسـاد ښکاره او شرمیـدلي دوسـیه یـې پـه خپـل حـال او ځـای پرتـه ده اوایشـجي هـم کـوکي اوفریادونه کوي چې دهیوادلـه عـدلي اوقضـایی اورګانونوځخه نور مایوسه شوي اوکـه یـې دغـه مایوسـی اونـاغیړی پـه حـق کـې روانـه وي نونړیوالوقضایي اداروته به مخه کړي .

له بل لوري پـه دې ورسـتیو کـې د جـنرال دوسـتم یـو غښـتلی جنـګ سـالار نظـام الـدین قیصاري چې په فاریاب ولایـت کـې سـلګونه وسلوال لري او د کابل رژیم په مقابل کې له یـو

لږ بغاوتونو ورسته د رژيم له لوري ونښولی شو او کابل ته يورل شو؛ که څه هم په اړه يې اشرف غني څوځايه په خپلو غورو دريوکې وويل چې قيصاري او ورته جنګسالاران به مهار کوي او نېسي به يې خو داسې ښکاري چې کابل ته د جنرال دوستم له رارسيدو سره سم به قيصاري هم له زندانه خوشې او ازاد کړل شي.



دچارو د کارپوهانو په اند اصلا دغه ټوله لوبه د امريکايانو ده چې له خپلو غلامانو سره يې د حالاتو په تناظر او رنا کې سرته رسوي ، په دې معنی چې يو وخت دامريکايانو اړتيا دا وه چې د کابل رژيم په اچار دوله ګډوله کې خپل ټول اجيران شريک وبولي او افغان شموله نظام يې يادکړي نو جنرال دوستم يې له خپلې ټولې کرغيړنې ماضي سره د اشرف غني لومړی مرستيال وټاکه بيا د امريکايانو ضرورت دا و و چې دوستم د ايشچي له پيښې وروسته له افغانستان څخه ترکيې ته وشړي او اوس بيا هماغه مجرم، وحشي او بدنامه دوستم بېرته د امريکايانو په صابون وينځل کېږي او بېرته په خورا درناوي کابل ته راوستل کېږي.

ښکاره ده چې د کابل اداره د امريکايانو له ګټو او مصالحو پرته يو ګام هم نشي. اخيستلی که داسې نه وي نو د کابل اداره دي افغان ولس ته ووايي چې د کومو دلائلو له مخې يې جنرال دوستم تبعيد او د کوم مصلحت له مخې بېرته راستنېږي او يا قيصاري د کوم جرم له مخې ونښول شو او اوس بېرته خلاصېږي؟

غصب شوي فلسطين کې مېشت مسلمانان

او د اسرائیلو نوی قانون

حسن مومند

دغاصب اسرائیلي دولت پارلمان څو ورځې دمخه درایو په اکثریت دقانون یوه نوې ماده تصویب کړه چې له مخې یې دفلسطینیانو نه په غصب شوې خاوره کې رامنځته شوی اسرائیلي دولت دیهودانو په قومي دولت بدل شو او پدې هېواد کې مېشت عرب مسلمانان ددې هېواد دوهمه درجه اتباع وګرځېدل.

دا ماده ۹ مهمې نکتې لري دې ۹ واړومهمو نکتوته چې نظر وشي نو ټولې په نسل پرستۍ او مذهبي تعصب ولاړې دي دا ۹ مهمې نکتې دا دي

(۱)ټول یروشلم(بیت المقدس)به داسرائیلو پلازمېنه وي.

(۲)له دې بعد به عربي دولتي ژبه نه وي دولتي ژبه به یواځې عبراني وي او عربي به پدې هېواد کې له عبرانۍ وروسته خصوصي مقام ولري.

(۳)دولت به دهغو یهودانو دامنیت ساتنې ته ځانګړې توجو کوي کوم چې دیهودیت له امله دامنیتي مشکلاتو سره مخامخ کېدای شي.

(۴)دولت به مسئولیت ولري چې دنړۍ په هرګوډکې چې یهودان مېشت وي ورسره روابط ټینګ کړي ترڅو دنړۍ دیهودانو او دولت ترمنځ دمېنې او خواخوږۍ فضا رامنځته او بیا ټینګه شي.

(۵)ددولت مسئولیت به وي چې په نړۍ کې دمېشتو یهودانو دځان،مال،کلتور،تاریخ او مذهبي رسمونو او اقدارو دساتنې او دفاع لپاره اړین ګامونه پورته کړي.

(٦) په هېواد کې مېشت یهودان د هېواد او دولت ستره سرمایه ده دولت مکلف دی چې ددوئ لپاره ددوئ دارتیا سره سم نوې ودانۍ جوړې کړي او دحوصلو لوړوالي لپاره یې اړین ګامونه پورته کړي.

(۷)دولتي جنتري به عمراني وي او ترځنګ به یې دعیسوي جنتري نه هم کار اخستل کېږي.

(۸)دازادۍ په ورځ به دولتي رخصتي وي او دهولوکاست هیروز ترځنګ به دهغو روځو یادونه هم کېږي چې پکې اسرائیلي فوځیان ددښمن په مقابل کې جنګېدلي او قربانۍ یې ورکړیدي.

(۹)دیوم السبت یاني دهفتې ورځ به داستراحت او دولتي رخصتۍ ورځ وي خو دهېواد نایهودي اتباع به په بلې ورځ درخصتۍ حق ولري.

په اسرائیلو کې ددې نوي قانون منظورېدا په کلي ډول دبشرحقوق ترپښو لاندې کول دي نو ځکه په غربي نړۍ کې هم ددې پرضد ګڼو ادارو او اشخاصو اواز پورته کړیدی خو دا چې اسرائیل دملګروملتونو په اداري کې دتصویب شویو پرېکړه لیکونو پروانه ساتي نو دلویدیځ نه داشخاصو او ادارو دراپورته شویو اوازونو به څه پروا وساتي او پر پرېکړو به یې څه اغېزې وکړي؟

په ۱۹۴۸ م کال کې چې دملګرو ملتونو اداري کې غاصب اسرائیلي دولت په رسمیت پېژندل کېدلو نو دې اداري داسرائیلي دولت ترځنګ دازاد فلسطیني دولت رامنځته کېدل هم په رسمي ډول منظور کړي او دفلسطین خاوره یې ویشلې وه؛په شمال غرب ټولو سیمو داسرائیلو واکمني منل شوې وه؛غزه او لویدیځه ترانګه دازاد فلسطیني دولت لپاره پرېښودل شوې وه او بیت المقدس ددواړو دولتونو دواک نه بهرون دملګرو ملتونو ترخارنې لاندې ازاده سیمه پرېښودل شوې وه خو دا دفلسطیني مسلمانانو نه پرغصب شوې ځمکې یو ناجایزاو غاصب دولت ته قانوني حیثیت ورکول او په رسمیت پېژندل و نو ځکه ددې ستر ظلم دمنلو نه فلسطیني مسلمانانو انکار وکړ چې له امله یې دعربو او اسرئیلو رومبی جنګ رامنځته شو چې په نتیجه کې یې پرغزې دمصر- قبضه راغله مشرقي بیت المقدس داردن ترقبضې لاندې راغلو او لویدیځه ترانګه اسرائیلو غصب کړه.

په ۱۹۶۷ م کې دعربانو او اسرائیلو په دوهم جنګ کې اسرائیلو ټول فلسطین قبضه کړ او ترځنګ یې دمصر- نه دسویس کانال او دشام نه دګولان غرونه هم ونیول؛اسرائیل ترننه پرټول فلسطین قابض دي او عملاً یې دملګرو ملتونو هغه پرېکړه رد کړې چې داسرائیلو ترځنګ به دفلسطینیانو لپاره هم ازاد دولت جوړېږي.

اسرائیلو اوس ددې نوي مادې په تصویب یو ځل بیا دملګرو ملتونو هغه پرېکړه رد کړه چې له مخې یې بیت المقدس دملګرو ملتونو ترمراقبت لاندې ازاده سیمه پرېښودل شوې وه.

اسرائیلو په ۱۹۸۰ م کال کې هم یوه ماده تصویب کړې وه چې له مخې یې بیت المقدس داسرائیلو پلازمېنه ګرځول شوې وه خو دا ماده چې دملګرو ملتونو دپرېکړې سره سراسر په ټکر کې وه نو دملګرو ملتونو دامنیت شوری رد کړې وه؛داسرائیلو نه یې ددې قانون دمنسوخ کولو غوښتنه کړې وه او دملګرو ملتونو دغړیو ټولوهېوادونو نه یې غوښتي و چې بیت المقدس کې دې خپل سفارتونه نه پرانزي؛ډدې اړه چې دملګرو ملتونو اداري کې رایې اچول کېدې نو امریکا یکې برخه نه وه اخستې نوبې طرفه پاتې شوې وه.

دامنیت شوری داسرائیلو نه یواځې دقانون دمنسوخ کولو غوښتنه کړې وه خو چې داسرائیلو پرضد عملاً کوم اقدام نه و شوی نو دې غوښتنې پراسرائیلو هیڅ اثر ونکړ.

تېر کال چې امریکا بیت المقدس داسرائیلو لپاره دپلازمېنې په صفت ومنلو نو ددې پرېکړې پرضد دمصر له لورې دوړاندې شوي پرېکړه لیک په حق کې دامنیت شوری ۱۴ غړو رایې ورکړې خو

امریکا ویټو کړ او دوه میاشتې دمخه یې خپل سفارت هم دتل ابیب نه رامنتقل او په بیت المقدس کې یې پرانست.

داسرائیلو سره دامریکا همدا ډاډ دی چې اوس یې بیا دملګرو ملتونو پربکړه رد او له خپل لورې یې بیت المقدس په قانوني لحاظ داسرائیلو پلازمېنه وګرځوله.

داقانون دملګرو ملتونو له لورې په فلسطین کې ددوه دولتونو درامنځته کولو منظور کړی شوی پلان ردوي او په اسرائیلو کې دمېشتو عربانو ټول بشري حقوق ترپښو لاندې کوي.

ددې قانون په اړه داسرائیلو په پارلمان کې درایو ورکولو پرمهال دپارلمان عربو غړو ددې مادې پرضد سخت احتجاج وکړ ،نارې یې پورته کړې او دوئ ته ورکړل شوې هغه پانې یې څېرې کړې چې دا ماده پکې لیکل شوې وه.

دیادولو ور ده چې داسرائیلو په حدودو کې دننه چې په کومو سیمو کې له یهودانو لرې یواځې عربان اوسېدل د ۱۹۴۸ م کال نه تراوسه په ټبرو ۷ لسیزو کې هغوئ ټول اسرائیلي دولت له خپلو سیمو شړلي او دهغوئ کورونه او ځمکې یې غصب کړي او دبهر نړۍ نه راغلو یهودانو ته یې پکې کورونه جوړ کړیدي خو کوم فلسطیني مسلمانان چې داسرائیلو ښارونو کې دننه دخپلو پلرونو نیکونو په مېنو کې اوسېدل نو تري دغه مېنې ندي غصب شوي او هغوئ کې ګڼ شمېر لاهم په خپلو کورونو کې اوسېږي او دا چې داسرائیلو په ښارونو کې دننه اوسېږي نو طبعي ده چې دوئ ټول داسرائیلو اتباع ګڼل کېږي ،ددوئ شمېر یوملیون او ۸ سوه زرو ته رسېږي چې دا داسرائیلو دنفوس ۲۰ سلنه برخه تشکیلوي.

نړۍ مني چې په اسرائیلو کې ددې عربو مسلمانانو سره ناوړه سلوک کېږي ،دوئ ته ددوهمې درجې داتباعو په نظر کتل کېږي خو اوس ددې مادې دتصویبېدو نه پس به یواځې په عمل کې نه بلکې داسرائیلو دقانون له مخې هم دوئ ددوهمې درجې اتباع وي.

اوس به اسرائیل په نړۍ کې یواځنې هغه هېواد وي چې دخپلو اتباعو یانې عربو مسلمانانو په اړه به هیڅ مسئولیت نه لري خو د هېواد نه بېرون دنړۍ سونو زرو هغو خلکو ته به ځان مسئول ګڼي چې نه ددې هېواد اتباع دي،نه یې ددې هېواد اودې

سیمې سره کوم تړاو شته او نه یې په خپل عمر کله داهبواد لبدلی دی.

دفلسطیني مسلمانانو نه غصب شوې سیمې چې اوس داسرائیلو ترقبضې لاندې دي پکې نوي کورونه جوړول؛ورته وده ورکول؛داخپله ملي شتمني ګرځول او پکې له بهر نړۍ نه راوستل شوي هغه خلک مېشت کول چې ددې خاورې سره یې هیڅ ربط نه وي او دا هر څه دخپل قانون برخه ګرځول دمهذبې نړۍ او دملګرو ملتونو دقوانینو سره دنفرت ښکاره کولو او ورته په سپکه سترګه دکتلو داسې ښلګه ده چې په نړۍ کې هیڅ مثل نه لري خو عجیبه دا ده چې نړۍ کې هیڅوک داسې نشته چې دټولې انساني ټولنې سره دنفرت او سپکاوي نه ډک دې اقدام نه اسرائیل منع کړي او نه یې دمنع کولو هڅې کوي.

ددې قانون دتصویبېدونه پس داسرائیلو لومړی وزیر بن یامین نتن یاهو په خپلې وینا کې وویل چې مور په خپل دیموکرات نظام کې دبشري حقوقو لحاظ کوو خو پرېکړې داکثریت بربنسټ کېږي او اکثریت خپل حقوق لري.

دنړۍ عام ذهنیت داسرائیلو ددې اقدام سره خپل مخالفت ښکاره کړی داروپایې اتحاد دباندنیو چارو مشر فریډریکه موغریني ویلي دي چې مور ددې نوي قانون په اړه سخت تشویش لروٍمور به پدې اړه داسرائیلي دولت سره خبره وکړو څکه چې مور په فلسطین کې داسرائیلو ترځنګ دازاد فلسطیني دولت رامنځته کول غواړو ددې لپاره هڅې کوو او دا دفلسطین دستونزې حل بولو.

په اسرائیلو کې دننه او له اسرائیلو بهرون دنړۍ په مختلفو برخو کې مېشتو یهودانو هم ددې قانون سره خپل مخالفت ښکاره کړیدی؛داسرائیلو دا اقدام یې په شدیدو ټکو غندلی دی او دایې داسرائیلو لپاره ددېر ټاوان نه ډک اقدام ګڼلی دی څکه چې پکې دنړۍ د مسلمو اصولو نه مخالفت دی؛ددې قانون دعملي کېدو نه پس به په اسرائیلو کې دمېشتو عربانو حقوق نورهم ترپښو لاندې شي چې دا داسرائیلو لپاره دشرم نه ډکه خبره ده.

داسرائیلو دپارلمان یو عرب غړي احمدطبي رسنیو ته وویل چې څه نن اعلان کوم چې دیموکراسي او جمهوریت په اسرائیلو کې ومړ.

داسرائیلو ددې تازه اقدام اونورو اقداماتوپه مقابل کې دملګرو ملتونوعکس العمل ښکاره کول ښه خبره ده خوداسرائیلودوجودنه تر ننه داسرائیلو پرضد پرېکړه لیکونواو غندنو پراسرائیلو دیادولو وړ هیڅ اغېزه نده کړې اونه یې ددې غاصب دولت دناوړه اقداماتو مخه نیولې ده څکه چې دملګرو ملتونو دامنیت شوری تر اوسه داسرائیلوپرضد کوم کوچنی عملي اقدام ندی کړی ؛امریکا دا اداره بیخې بې واکه کړیده اوداسرائیلودهرې ارادې اواقدام سره یې حمایت مل دی .

ترڅو چې مسلمانان د فلسطین دازادۍ اودوحشي اسرائیلودشوموپلانونوپه مقابل کې یوشوي نه وي داسرائیلو له لورې به ددا سې اقداماتو لړۍ روانه وي مور به یواځې غم او افسوس ښکاره کوو اوپه عمل کې به هیڅ نه شو کولای .

طالبان د هېواد د اتوماتې ژغورنې انرژي

اونۍ له مخه د کابل اداري اړوند دريو ګوندونو د يوې ناستې په ترڅ کې د هېواد ژغورنې په نوم ائتلاف اعلان کړ، د ارګ ضد دغه ائتلاف له ولسمشر سره د ګڼو او پرلپسې ناندريو له امله موده وړاندې په ترکيه کې د يو اپوزېسيون په شکل هغه وخت رامن ځته شو، چې د ازبکانو د جنبش ګوند مشر دوستم له ولسمشر سره د ۱۴ مياشتو دوامداره اختلاف ستومانۍ وړله او له امله يې له ترکيې د راتلو الوتکې ته اجازه ورنه کړل شوه او بيرته و شړل شو، له بل لوري د عطاء نور، کريمي او... د ګوښه کولو او د نيم واک د دعوې په سر جمعيت له ولسمشر سره د ناندريو يو اوږد، ستړي او د رسوايۍ پړاو ته لوېدلی و، او له درېيم لوري د مخابراتو د پخواني وزير د محاکمې په سر د محقق ځپنې څرګندونو له امله د حرکت ګوند هم د کابل اداري پر ضد په لومه اوښتی و.

د غه ائتلاف په داسې وخت کې اعلانيږي چې له يو لوري ولسمشر له پرلپسې هڅو، دسپسو او نظامي زور کارولو وروسته له دوستم سره د اړوندو چارو په اړه يوه جوړ جاړي ته رسېدلی او تازه يې له ترکيې راستون کړی تر څو يې په بېرته خوشالولو ائتلاف ور دړې وړې کړي، له بل لوري د هغو خارجي ملاتړي او ائتلافيان ترې زړه توري شوي، له هېواده د وتلو او نه وتلو ترمنځ د وار خطايې او تذبذب ښکار دي او... له درېيم لوري نوې

ائتلافیان ترخپل منځ او هم په خپل راتلونکې بې باوره او شکمن دي.

په یاده غونډه کې چې د هغې ګډونوالو او د ائتلاف مشرانو کومې څرګندونې کړې په هغو نه غږېږم، د دوی پردیو موخو ته ژمنتیا، خپلمنځي نااندریو، د ملت په وژنو-خورونو-عفت لوټنې .د غلاوبدو او شوکولو سیالۍ دکې ۲۵کلنې ماضي ته په کتو د سړې پام د ژغورنې له مانا فرسخونه لیرې ځغلي، زړه ته مو نه لوېږي چې د هېواد ژغورنې په نوم د هغه یو ډګرې لا وژغورې بلکې وېرېږم تر دې نوم لاندې غم ځپلی او خوار ولس نور هم وکړوي.

اتلس کاله وړاندې همدې ائتلافیانو تردې هم سپېځلې (د هېواد رغونې) نوم لاندې د ناټو غړو هېوادونو په ملتیا د۵۲ هېوادونو نړیوال ائتلاف له ځانه سره درلود، دا نوم تر ژغورنې سپېځلی ځکه و چې ژغورنه یو نیم مرګونه، ستومانی او خورونه له ځان سره لري.

خو رغونه تر خپل پلو او پېځکه لاندې هغه ټولې لارې چارې را نغاړي چې هېواد او ولس پرې د نورو سیال ګرځي لکه؛ هرډول ټولنیزې اسانتیاوې، مکتبونه، کلینیکونه، بازارونه، ودانۍ، د اوبو او برېښنا پروژې، لویې لارې، او... همدارنګه هېوادنۍ مالي، تجارتي، کرهنیزې، صادراتي او ترانزیتي پراختیا، د سیاسي او دېپلوماتیکو پر مختګونو وده.

ائتلافیانو هم په ښکاره همدغه موخې زمزمه کولې، او د هېواد او ولس لپاره د دوی په خبره د خوښۍ او نیکمرغۍ یو زېری بلل کیده، په لومړیو کې یې هرکلی هم وشو، خو دا چې له لومړي سره یې د پردیو باندې نیو موخو او کورنیو د شخصي ګټو خوندې توب په پام کې نه ښول شوی او ور پورې ترڅ شوی و رغونه بشپړه بد فال او سرچپه وخته.

په تېرو ۱۸کلونو کې مو ولس خو خپله وګالل هېواد او نړۍ هم د هغه د پخوا په پرتله د۷۰سلنې لوړو بدمرغیو شاهد و، مکتبونه، کلینیکونه، بازارونه یوا ځې دا نه چې جوړ نه شول بلکې نړۍ ولېدل هغه جوړ شوي یې د رغونې په نوم ونړول، بمبارۍ کړل، په بمونو یې والوزول او لادوام لري.

له همدې امله که په ښکاره له زړه هم هرڅومره ښه نیت او موخه ولري نور یې رېښتونې مانا هغه څه وي چې په ماضي کې و، اوس بیا هم دومره لویې او خوږې لاپې شاپې د یو پټ پلان، باندې ورکړل شوي رول، شخصي رقابت او ګټو پاللو او پیلولو په سر کې کوي، ایا ملت دومره بې ادراکه او بې حافظې دی چې د تېرو او روانو ناخوالو عاملین به ترې ورک وي؟ د دوی۲۵کلنه ماضي

به يې هېره وي ! دوستم به له دا ۱۴ مياشتي شړنې وروسته تش د بکتاتور په ستايل جوړولو اوس بيا ژغورونکی(!) ومنې؟ او که دوی خپل ځان غولوي او د نورو ستر ګو ته خاوري ور دوړوي؟

ملت په دوی ځان نه ژغوري، هغه ښه پوهيږي چې دوی په دې نوم څه غواړي، څوک ژغوري، له چا يې ژغوري او څوک يې تر اوسه ژغورلي؟ د دې ائتلاف د ژغورنې په لړ کې يوه ښه، رښتونې، د پرون ورځې بېلګه بسنه کوي:

داعشيان چې له پيله امريکايانو را وستل له سلګونو شواهدو او په هغو له اعترافاتو سره د دوی لپاره کمپاين کول، لوړ او ځواکمن يې ښودل، پرلپسې هرډول اکمال ـ ملاتړ او ژغورنه يې د امريکايانو له خوا د کابل اداري د همدې ائتلافيانو غاړې ته ورو لوبدل، په ځانګړي د طالبانو په محاصرو غونډې سختو حالاتو کې بمباری، د داعشيانو د مړو او ځخميانو انتقال او تداوي د امريکايانو او دې ائتلافيانو ګډه دنده او د داعش حيوي اړتيا وه.

د اشرف غني د تېر واړه اختر د اوربند ورځې لا نه وې پوره چې پر ضد يې جمعيت ګوند لاريونونه وکړل، په شمال کې د داعش په زياتولو لاس پورې او په لغمان کې د داعش په نوم د دوستم او عطاء نور ډلې پياوړې کړې.

ورسره د طالبانو ځانګړې قطعې په لغمان کې هغه دره ښه په خړپ محاصره کړه چې د داعشيانو په نوم مرکزونه ورکې پياوړي کېدل، زيات شمېر يې ووژل، امريکايانو د طالبانو د محاصرې ماتولو او د داعش ژغورنې لپاره درنه بمباري وکړه د داعش زيات افراد يې جوزجان ته په اېستلو و ژغورل.

په جوزجان کې له درو اونيو پرلپسې جګړې وروسته د طالبانو له لوري د داعش ډلې تر ۱۰۰ جرمنيانو او فرانسويانو په ګډون د ۱۵۳ وژل کېدو، ۱۲۳ ټپي کيدو او د ۱۳۴ تنه بهرنيو ژوندې نېول کېدو وروسته د جوزجان درازآب ولسوالي د امنيه قوماندانۍ او نورو په اعتراف څه کم ۳۰۰ داعشيان د کابل اداري د چورلکو په مټ له ساحې پورته کړي او ژغورلي دي، د هغو له جملې ۲۲۰ داخلي يې شبرغان ته په رسولو او ۷۰ نور جرمني او فرانسوي يې له ساحې په ناپېژانده چورلکو کې بهر ته ستانه کړي دي.

دا چې ۲۲۰ ژغورل شوي ټول د دوستم او عطاء نور لوچک دي اول يې د تسلیمۍ نوم پر اېښی او بيا د کابل په ځای شبرغان ته وړل شوي دا په ډاګه کوي چې نور به ببرته د جنبش او جمعيت ملېشو په نوم د دې ائتلاف برخه

وي او د تاکل شويو موخو لپاره به و کارول شي، دا د يادو ګوندونو په پام کې نېول شوي ائتلاف د کاري ميدان يوه بېلګه ده، نو څه به وايو چې د هېواد ژغورنې کمه د هېواد د لازياتې بربادۍ ائتلاف؟!!

په ټول شمال کې

طالبان چې د ولس د زېندۍ شوي غږ انعکاس دی پرته له دې چې کوم نوښتونه رامنځته کړي تش وجودي لاهم سيمې او د هغې وګړو ته يو ډول ارام او خوښي وربښي، بس يواځې د طالبانو راتګ يو مثبت نوښت او ستر

په درزاب کې د تسليم شويو داعشيانو لخوا کابل رژيم ته ډالۍ شوي وسلې او مهمات

هرڅه همدې ائتلافي لنډغرو ترسره کړي، په دې وروستيو کې چې د دوستم ملېشې او د کابل اداري عسکر سره سر په ښکر او په شمال کې غوغا جوړه شوه ټولې د دوی خپلې موخې وې د ملت په هېڅ وګړي يې تړاو نه درلود، خو لاري يې په همدې ملت تړلې وې، د لاريون په چاره يې په همدې ملت ورځني کارونه تړلي و.

تحول وي، او دا ځکه چې طالبان د ولس له هغو ټولو مرامونو سره ورته راځي چې غږيې د هغه په مړۍ کې ورځپاڼو زېندۍ شوی دی، نو ويلای شو چې طالبان د هېواد د اتوماتې ژغورنې انرژي

دا اسلام غزوات او سرايا

عمـــرةُ القـضاء

ابوظهير

...په تير پسې

حديبه صلحې پر مهال قريشو دا لوظ کړی و چې سږکال دي رسول الله ﷺ او مسلمانان بيرته له عمرې کولو پرته ستانه شي او راتلونکي کال ته دي بيا دعمرې لپاره راشي،خو دعمرې کولووروسته به په درې ورځو کې له مکې څخه وځي ،په راتلونکي کې رسول الله ﷺ چې کله د ذی قعدې مياشت وليده نو صحابه وو ته يې حکم وکړ چې: ځانونه دعمرې قضاء راوړو لپاره تګ ته تيار کړئ!

او دا حکم يې هم وکړچې : کومو کسانو حديبه کې ګډون کړی وو په هغوی کې دي يو هم پاتې نشي، البته هغه چې په دي منځ کې شهيدان يا پخپل طبعي مرګ وفات شوي بل څوک دي له ګډون کولو څخه نه وروسته کوي (طبقات ابن سعد: ۸۷مخ مخ ۲توک، زرقاني ۲۵۴مخ ۲توک)

ځيرنه:

حاکم په اکليل کې وايي: دمتواتره احاديثو نه داثابته ده چې رسول الله ﷺ کله د ذی قعد مياشت وليده دتير کال پاتې شوې عمرې دقضاء راوړو حکم يې وکړ، کومه چې په حديبه کې دقريشو لخوا دمخنيوي په وجه پاتې شوې وه او تاکيد يې وکړ چې کومو خلکو په حديبه کې ګډون کړی وو دهغوی نه يو هم نه پاته کېږي ، په دې توګه دهغو خلکو نه پرته چې شهيدان شوي وو نور ټول د عمرې کولو لپاره روان شول او په هغوی سربيره يوشمير نورخلک هم دعمرې په نيت ورسره روان شول چې دټولو شمير دماشومانو او ميرمنو څخه علاوه دوه زره تنو ته رسيد او دې عمرې ته عمرة الصلح هم وايي.

لنده داچې په دې سره داخبره هم ښه ښکاره کېږي چې که په څه وجه له چا نه عمره یا حج پاتې شي په راتلونکي کې یې په هغه قضاء واجب ده دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ هم دا مسلک دی دنور تفصیل لپاره فقهي کتابونو ته رجوع وکړئ

په دې سره د دوه زره کسانو دله درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یوخای دمکې مکرمې په لورن وکوچیده، دهدې په توګه اویا اوښا ن هم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځان سره روان کړل، ذوالحلیفه ته په رسیدو مسجد کې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او هم صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ احرامونه وترل او په لبیک، لبیک ویلو وکوچیدل، احتیاطاً یې ځانو سره وسلې هم را واخستې خو دا چې دحدیبې په لوظنامه کې دا شرط ایښی شوی و چې مسلمانان به ځانو سره وسلې نه راوړي، په دې وجه یې وسلې په [بطن یاجج] کې پریښودې او رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسې حال کې صحابه وو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ سره روان شو چې تلبیه یې ویله...

او عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دناقې (قصواء) واګې نیولې او لاندې رجزیه شعرونه یې ویل او مخکې ته:

خَلُّوا بَنِی الکُفار عَن سَبِیلِهِ

قَد انزَلَ الرَّ حمَن فِی تَنزِیلِه

اې کافرانو! رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته لار ورکړئ الله تعالی په عظیم الشان قرآن کې داحکم نازل کړی دی

بِاَ نَّ خَیرِ القَتلَ فِی سبِیلِه

نَحنُ قَتَلنَا کُم عَلی تَاوِیلِهِ

کَمَا قَتَلنَا کُم عَلی تَنزِیلِه

غوره قتل هغه دی چې دخدای په لار کې وي موږ دتاسو سره جهاد وقتال کړی دهغه حکم منلو په وجه ځنګه چې دمنزل قرآن نه منلو په وجه مو تاسو سره قتال کړی

د« علی تاویله او علی تنزیله » مطلب علامه زرقاني دابیان کړی دی یعنې «علی انکار تاویله وعلی انکار تنزیله » اود ا هم ممکن چې دامعنی ولري چې: موږ تاسو سره جهاد وقتال دهغه په حکم کوو .

او دیهقي په روایت کې دالاندي بیتونه هم راغلي:

اَلیومَ نَضرِبُکُم عَلی تَنزِیلِهِ

ضَرباً یُزِیلُ الهَامُ عَن مَقبِلِهِ

ژ: دالله تعالی په حکم سره به موداسې ووهو! چې دسرونو کوپړی به ستاسو دسرونو څخه جلاشي

وَیُذهِلُ الخَلِیلَ عَن خَلِیلِهِ یَارَبِّ اِنِی مُؤمِنٌ بِقِیلِهِ

ژ: اودوست له دوست څخه ناخبر ګرځوي یا الله ! زه د ده په قول ایمان لرم

او دابن اسحاق په روایت :

یَارَبِّ اِنِّی مُؤ مِنٌ بِقَیلِهِ اِنِی رَأَیتُ الحَقَّ فِی قَبُولِهِ

او زه د ده منل حق بولم

حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل:

ابن رواحه! ته درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخ کې او دالله تعالى دحرم په وړاندې شعروايې!

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: عمره! پريږده! داشعر په کافرانو باندې دغشي نه هم سخت لګيږي (رواه الترمذى والنسائي،وقال الترمذى حسن غريب)

داټول تفصيل په فتح الباري کې شته دابن سعد په روايت چې: رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: اي عمره! زه يې اورم

اوعبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې حکم وکړ : ابن رواحه! وايه !

لا اله الا الله وحده نَصَرَ عَبدَه وأعزَّ جُندَه وَهَزمَ الاحزاب وحده

عبد الله بن رواحه سره نورو صحابه وو هم هغه کلمات ويل او وړاندې تلل په دې شان سره مکې ته ننوتل دبيت الله طواف يې وکړ، او دصفا مروه ترمنځ يې سعي وکړه هدى يې نحر کړې ، ځانونه يې حلالکړل بيا رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځيني خلکو ته حکم وکړ چې :

چې تاسو! بطن ياجج ته لاړشئ او هلته دوسلو ساتلو لپاره پاته صحابه دي راشي او طواف و سعي دي وکړي

له دې وروسته کعبې مبارکې ته دننه ننوت او ترماسپښين پورې هلته و، درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حکم حضرت بلال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دکعبې شريفې په بام دماسپښين اذان وکړ (الطبقات الكبرى ۲توک ۸۸مخ)

قريشو که څه هم دوعدې له مخې دعمرې کولو اجازه ورکړه خو له زياتې غوسې او د ډير حسد نه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه وو ته يې نشواى کتلى په دې وجه دمکې سردران او مشران دمکې څخه ووتل او غرونو ته لاړل (زرقاني ۲توک ۲۵۵مخ)

دحضرت ميمونه سره نکاح :

دعمرې اداء کولو وروسته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر درې ورځو نور په مکه مکرمه کې پاته و او دحضرت ميمونه بنت الحارث سره يې نکاح وکړه ، کله چې درې ورځې تيرې شوې قريشو ورته ځوتنه راولېږل چې ستاسو موده پوره شوې نو لاړشئ !رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغوى ته وويل: که تاسو مهلت راکوئ په مکه کې دميمونه بنت الحارث واده او وليمه به وکړم !

هغو خلکو په نهايتې تروه ټنده ځواب ورکړ :

موږ ته ستا وليمې او دعوت ته ضرورت نلرو ته لاړشه !

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سملاسي صحابه وو ته دروانيدو حکم وکړ او خپل غلام ابو رافع يې دحضرت ميمونه رض لپاره پريښود چې هغه ځان سره کړي او[سرف] نوم ځاى کې يې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورولې ، هلته [په سرف کې] رسول

الله ﷺ واده وکړ او بيا دهمدې خايه روان شول په ذی لحجه کې مدينې منورې ته ورسيدل

کله چې رسول الله ﷺ دعمرې نه فارغ شو او دمکې مکرمې وت په دې وخت کې د حضرت حمزه رضی الله عنه يوه وړه لور رسول الله ﷺ ته کاکا ، کاکا(په دې چې حضرت حمزه درسول الله ﷺ رضاعي ورور و) نارو وهلو وهلو کې راغله حضرت علي رضی الله عنه سملاسي هغه را پورته کړه وروسته دحضرت علي، حضرت جعفر او حضرت زيد بن حارثه رضی الله عنهم ترمنځ اختلاف راغی، هريو ويل زه به يې پالنه کوم

حضرت علي ويل: زما دتره لور ده او ما راپورته کړې

حضرت جعفر ويل: زما دتره لور هم ده او خاله يې زما په نکاح کې ده

حضرت زيد بن حارثه ويل: زما داسلامي او ديني ورور لورده

رسول الله ﷺ دهغوی نرمنځ فيصله وکړه چې : ماشومه نجلی دخپلې خاله سره پريږدئ او بيا يې وفرمايل: چې خاله په منزله دمور ده (رواه البخاري عن براء بن عازب)

داخرم بن ابی العوجآء سريه

په ذی الحجة الحرام مياشت کې رسول الله ﷺ اخرم رضی الله عنه دپنځوس کسانو سره يوځای دبني سليم په نوم قبيلې ته داسلام دعوت ورکولو په موخه ولیږه ، بني سليم هغوی ته وويل مور اسلام ته ضرورت نلرو او بيا دغشو په ويشتلو سره يې دمسلمانانو دا کوچنۍ ډله په شهادت ورسوله يواځې پخپله اخرم رضی الله عنه چې هغوی مړ ګڼلی و ژوندی پريښودی و هغه چې دزخمونو څخه دومره چور چور شوی چې له امله يې په سد نه وهغوی ورباندې دمړه يقين وکړ خو وروسته هغه را بيدار شو او دصفري په لومړۍ نيټه مدينې منورې ته راغی (الطبقات الکبری لابن سعد ۲توک ۸۹مخ)

دغالب بن عبد اللّٰه ليثي سريه

دهجرت په ۸ کال صفري مياشت کې رسول الله ﷺ غالب بن عبد الله ليثي رضی الله عنه دکديد په نوم ځای ته په [بنی الملوح] باندې دبريد لپاره له يوې ډلې سره وليږه، هلته په رسيدو سره يې پر هغوی بريد وکړ اوتري اوښان يې ونيول مدينې ته يې روان کړل دبني الملوح يوه ډله په مسلمانانو پسې روانه شوه خو په دغه وخت کې دومره زورور باران پيل شو چې دمسلمانانو او کافرانو ترمنځ چې کوم رود و هغه ټول داوبو نه ډک شو او کافران په هغه کې نشوای پوريوتلی په دې سره هغوی ترمسلمانانو پورې ونه رسيدل او مسلمانان روغ رمټ مدينې منورې ته ستانه شول (زرقاني ۲توک ۲۶۶مخ)

دزرقاني په وينا رسول الله ﷺ دخيبرغزوې او موته ترمنځ نورې وړې وړې سريې هم ليږلې چې هغه ټولې لله الحمد بيرته کاميابې او بريالی راستنې شوې دي (زرقاني ۲توک ۳۶۶مخ)

نوربيا ...

سید سعید

جنګي جنایتونه {جولای}

د ۲۰۱۸ز،کال دجولای دمیاشتې په لومړۍ نیټه د فاریاب ولایت دخواجه موسی ولسوالۍ د غار تپه په سیمه کې یرغلګرو یو ملکي کلینک بمبار کړ ی،په دغه بمبار کې یو سپین ږیری ، یو ه ښځه او دوه ماشومان ځای پرځای شهیدان او څلور تنه نور هیواد وال زخمیان شوي دي.

دجولای په ۱مه د کندز ولایت دچهادرې ولسوالۍ په قریه یتیم کې دګډو ځواکونو په عملیاتو کې اووه تنه ملکي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جولای په ۱ مه دفراه ولایت د بکوا ولسوالۍ د اشکین په سیمه کې یرغلګرو دحاجي نوراحمد صرافي په نامه بازار باندي بمبار کړی،په یاد شوي بمبار کې د ملکي خلکو یوه صرافي ، یو دتبلو پمپ ، دوکانونه او دولسي خلګو ګڼ موټران ویجاړ شوي دي.

د حولای په ۱مه د بادغیس ولایت د جوند ولسوالۍ د نهالبست په سیمه کې اشغالګرو پر یو مسجد بمبار کړی، په دغه بمبار کې جومات ویجاړ شوی او یو طالب العلم پکې شهید شوی دی.

د جولای په ۲مه د لوګر ولایت د پل علم په علیزو سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې،وروسته یې پر سیمه بمبار ه کړی، چې له املې یې تر شل تنه ډیر ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي او په سیمه کې یو مسجد هم ویجاړ شوی دی.

د جولای په ۲مه د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ په شبار دښته کې اربکیانو یو د قرآن کریم حافظ(جمیل الرحمان) شهید کړی دی.

د جولای په ۲مه د غور ولایت د دولینه ولسوالۍ د قیصارک په سیمه کې د یرغلګرو په بمبار کې درې تنه ملکي هیوادوالو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

د جولای په ۲مه دغور ولایت د شهرک ولسوالۍ د دهن مرقه په سیمه کې داشغالګرو په بمبار کې دملکي خلکو ګڼ دوکانونه ویجاړ شوي او خلګو ته پراخ مالي زیانونه اوښتي دي.

دجولای په ۳مه دکندز ولایت دچهاردرې ولسوالۍ قریه یتیم کې داشغالګرو په بمبار کې یوه مدرسه زیانمنه شوې او یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د جولای په ۴مه د فراه ولایت دخاکسفید ولسوالۍ ددیوال سرخ اورنج کلي تر منځ دیرغلګرو په درون حمله کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د جولای په ۴مه د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ په زرغون شهر سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرود ملکي خلکو په کورونو چاپه وهلې، د کورونو دروازې یې په بمونو الوزولې،

کورونه یې تالاشي کړي، خلک یې وهلي، قیمتي اجناس یې غلا کړي او وروسته یې په سیمه کې یوه مدرسه بمبار کړې ده.

د جولای په ۵مه دارزګان ولایت د چهارچینو ولسوالۍ دکشي په سیمه کې یرغلګرو او حکومتي ځواکونو پر یو کلینیک چاپه وهلې،په یاد شوي کلینیک کې یې نهه تنه ناروغان، پایوازان او دکلینیک کارکونکي شهیدان کړي او همدلته ولاړ نقلیه وسایط یې ویجاړ کړي دي.

د جولای په ۷مه د فاریاب ولایت د خواجه سبزپوش ولسوالۍ کې د داخلي عسکرو د هاوان په برید کې د یوې کورنۍ لس تنه غړي ټپیان شوي اود ځینو زخمیانو دبدن غړي هم پرې شو ي دي.

د جولای په ٦مه د فاریاب ولایت د لولاش ولسوالۍ په ملا عارفي سیمه کې د یرغلګرو او حکومتي قواوو په بمبار کې کورونواویو مسجد ته زیان رسیدلی دی.

دجولای په ٦مه د غزني ولایت دګیلان ولسوالۍ په شینکۍ سیمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې شپږ تنه ماشومان شهیدان اوټپیان شوي دي.

د جولای په ۷مه دخوست ولایت د باک ولسوالۍ په پهلوان خیلو کلي کې د حاجی پادشاه ګل په کور داخلي کمانډویانو (ضربتیانو) چاپه وهلې، د یادې شوې کورنۍ ۵ تنه غړي(مولوي محمد شاه خان، مولوي محمدګل محمدي، حاجي لونګ ګل، قاضي رحمان او اکبر رحمن) یې شهیدان کړي.

د جولای په ۷مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ د مملې په قیوم خیلو سیمه کې اشغالګرو اوداخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو دچاپې په مهال دیو پ کورنۍ درې غړي شهیدان او دوه کلیوال بندیان کړي دي،په د پ چاپه کې خلګو ته زیات مالي زیان هم اوښتی دی.

د جولای په ۷مه د بلخ ولایت دچمتال ولسوالۍ د سپین مسجد په سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو د ملکي خلکو په کورونو چاپې وهلې، د کورونو دروازې یې ماتې کړې، خلک یې وهلي، درې تنه کلیوال یې شهیدان کړي او پنځه تنه یې له ځان سره د بندیانو په توګه وړي دي.په یو بل خبر کې ویل شوی چې نن دهمدې ولسوالۍ په هوتکو سیمه کې په بمبار کې هم شپږتنه ملکي هیوادوال شهیدان اوټپیان شوي دي.

د جولای په ۷مه دهلمند ولایت دګریشک ولسوالۍ دنهرسراج په وزیرو مانده سیمه کې ددا خلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې دوه ماشومان شهیدان او یوه میرمن ژوبله شوې ده.

د جولای په ۷مه د غورولایت د چهارسدې ولسوالۍ د ملمنج په سیمه کې د اربکیانو په ډزو کې یوه ښځه شهیده اودوه ماشومان زخمیان شو ي دي.

د جولای په ۸مه د زابل ولایت دمرکز اړوند د ملایانوپه سیمه کې دطالبانو او یرغلګرو ترمنځ له جګړې وروسته اشغالګرو او داخلي عسکرو په سیمه کې بمبار کړی، په دغه بمبار کې دولسي خلګو اته کورونه او یوه مدرسه ویجاړه شوې او دوه تنه ولسي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۹مه د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ په

سرندو سیمه کې داشغالګرو او حکومتي ځواکونو په بمبار کې اته تنه ولسي وګړي شهیدان او پنځه تنه ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۰مه د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ په ملکانو سیمه کې د اشغالګرو او حکومتي قواوو په بمبار او ډزو کې یو جومات وران شوی او دوه نفره ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۱۲مه د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په شمولزیو سیمه کې دحاجي خاصدار پر کور یرغلګرو بمبار کړی، په یادشوی بمبار کې دنوموړي حاجي صاحب دکورنۍ پنځلس تنه غړي چې اکثره یې میرمنې او ماشومان دي شهیدان شوي. تر بمبار وروسته چې خلګو له خاورو څخه دشهیدانو جسدونه رایستل، پر سیمه بیا بمبار شوی چې شل تنه نور ملکي هیوادوال پکې شهیدان شوي دي.

دجولای په ۱۲مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په مملې سیمه کې اشغالګر او داخلي عسکرو سیمه ییز بازار لومړی چور کړی، بیا یې ګڼ دوکانونه ،د تیلو پمپ، یو مسجد او نور ملکي تأسیسات ویجاړ کړي او په اخر کې یې دیاد شوي بازار لس تنه چوکیداران او دپمپ کار کونکي شهیدان او ټپیان کړ ي دي.

د جولای په ۱۲مه د کاپیسا ولایت دتګاب ولسوالۍ داخندزادګانو په سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو دیوې چاپې په مهال یو دیني عالم (مولوي شفیع الله)چې د محمدیه مدرسې استاد و شهید کړی او دوه کلیوال یې بندیان کړي دي.

د جولای په ۱۳مه دزابل ولایت دشهرصفاولسوالۍ دجلدک په سیمه کې د یرغلګرو او حکومتي ځواکونو په ګډو عملیاتو کې درې تنه ولسي وګړي شهیدان او زخمیان شوي او یوه مدرسه ویجاړه شوې ده.

د جولای په ۱۴مه د بدخشان ولایت د جرم ولسوالۍ په فرغامیرو سیمه کې دداخلي عسکرو په بریدونو کې دخلګو کورونه زیانمن شوي، درې تنه ملکي هیوادوال شهیدان او پنځه نفره زخمیان شوي دي.

د جولای په ۱۵مه دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په زاوي سیمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو پنځه تنه ولسي وګړي شهیدان او ژوبل کړي دي.

د جولای په ۱۷مه د فراه ولایت دفراه رود ولسوالۍ په تودنک سیمه کې اشغالګرو او حکومتي ځواکونو یوه مدرسه بمبار کړې،بمبار شوې مدرسه دحفظ ، ناظرې او عصري علوموپه ابتدائیه ښونځي باندي مشتمله وه، چې دیادشوي بمبار له املې مدرسه په یو مخیزه توګه ویجاړه شوې او ټول لوازمات او کتابونه یې له منځه تللي دي.

د جولای په ۱۹مه د کندز ولایت دچهاردرې ولسوالۍ په خلازیو سیمه کې یرغلګرو دخلګو په کورونو بمبار کړی، په دغه بمبار کې دښځو او ماشومانو په ګډون اته ویشت تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي دي. په یاد شوي بمبار کې پر ولسي مرګ ژوبلې یرغلګرو او حکومتي چارواکو هم اعتراف کړی دی.

دجولای په ۲۱مه د غزني ولایت دناوې ولسوالۍ په محمدخیلو او خواجه خیلو کلیو د اشغالګرو او داخلي عسکرو په

چاپه کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲۴مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په نکړخیلو سیمه کې اشغالګرو اوداخلي عسکرو دچاپې په مهال یو کور وران کړی او څلور تنه ولسي وګړي یې شهیدان کړ ي دي .

د جولای په ۲۴مه د غزني ولایت دشلګر ولسوالۍ په کمال خیلو سیمه کې یرغلګرو او حکومتي عسکرو په یوه دیني مشهوره مدرسه (الجامعه نور المدارس الفاروقیه) چاپه وهلې،پنځه څلویښت تنه طالب العلمان یې بندیان کړي،درسي خونې او دهستوګني کوټې یې ویجاړې کړي دي. همداراز پر مدرسه له چاپې وروسته یې د کمال خیلو په بازار کې درې تنه چوکیداران شهیدان کړي، پنځه تنه عام کلیوال یې بندیان کړي، ګڼ دوکانونه یې چور او دخلګو نقلیه وسایط یې سوځولي دي .

د جولای په ۲۵مه د لوګر ولایت دځرخ ولسوالۍ د سیدانو په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو دچاپې په مهال یو مسجد او یو کور ویجاړ کړی دی.

د جولای په ۲۵مه دارزګان ولایت دمرکز ترینکوټ اړوند د درویشان د سجاول په سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو چاپه وهلې،شپږ تنه ولسي وګړي یې شهیدان او درې کوچنیان یې ټپیان کړ ي دي.وروسته یې دخلګو نقلیه وسایط سوځولي دي.

د جولای په ۲۶مه د هلمند ولایت د ګرمسیر ولسوالۍ د کیرتاکي، خاشه بازار اوداګو سیموکې دیرغلګرو او طالبانو ترمنځ تر نښتې وروسته ګډو ځواکونو دهاوان ډزې کړې، په دغو ډزوکې د یو ې کورنۍ پنځه غړي شهیدان اوټپیان شوي دي.

د جولای په ۲۷مه د ارزګان ولایت د مرکز ترینکوټ اړوند د درویشان د سجاول په سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې دوه تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دجولای په ۲۷مه دکندز ولایت ددشت ارچي ولسوالۍ د اخندزاده صاحب جمپ سیمه کې دحکومتي ځواکونو په بمبار کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان او یو تن ژوبل شوی دی.

د جولای په ۲۷مه د کاپیساولایت دتګاب ولسوالۍ په پشکړي سیمه کې د اشغالګرو په ډرون حمله کې درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

د جولای په ۲۹مه د فاریاب ولایت د چهلګزي ولسوالۍ د هزارقلعه په سیمه کې ددا خلي عسکرو دتوپچي په ډزو کې لس تنه ښځې او کوچنیان شهیدان او ژوبل شوي دي.

د جولای په ۲۹مه دفاریاب ولایت دشیرین تګاب ولسوالۍ د تورتکول په سیمه کې دکورنیو عسکرو دهاوان په پیرونو کې څلور تنه ولسي وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

د جولای په ۲۹مه اشغالګرو او حکومتي ځواکونودکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ د شهیدانو له سیمې ترګل زمان بازار پوري دملکي خلکو په کورونو چاپې وهلې،شپارس تنه ملکي هیوادوال یې شهیدان کړي،ګڼ نور ولسي وګړي یې بندیان کړي او دخلګو نقلیه وسایط یې سوځولي دي.

د مورچل وږمي

غزل

شفاعت ریحان

څه په ویرجن غمیزه حال د زړه خبرې کوي
د شهید شوي انډېوال د زړه خبرې کوي

یو څوک خو شته چې لا ممبر په اذانونو ساتي
یو څوک خو شته چې د بلال د زړه خبرې کوي

لکه ماشوم د سلګو غېږ کې وکړي ماته مسکا
لاس کې وهي د یار د سمال د زړه خبرې کوي

حورې به څنګه نه مني ستا محبت جانانه !
ستا پر تندي د وینو خال د زړه خبرې کوي

ځیني ژباړلی نه شي خپل دمات زړګي دردونه
ځیني بیا ډېر په لوړ کمال د زړه خبرې کوي

خدایه د ټولو ارمانونه لمبو و سوځول
ماته به کوم یو هیوادوال د زړه خبرې کوي؟

د شپې نیمی وي زه غزل د شفاعت لولمه
راسره اوښکو کې مشال د زړه خبرې کوي

د صلیب مقابله

سمیع الله تړون

لاس چې دې بې تورې شي او توره بې قلمه شي
ډیره ناممکنه ده چې مخه به دې سمه شي

زه لکه د ژمي مازیګر یم درنه لاړ به شم
ستا به غیږه ډکه له یخنۍ او له تورتمه شي

دا د ستر هدف لاره اسانه دومره هم نه ده
کله بې مزله شي او کله بې قدمه شي

هغه وخت د زړه د نرمیدو سوالونه ډیر کوه
خوله چې دې بې ذکره شي او سترګې دې بې نمه شي

ګوره ازادي دې په زاریو لاس ته نه راځي
کله بې له ډزه شي او کله بې له بمه شي

ژر شه د کمر د سر ګلاب ته اوبه پورته کړه
څه به وشي ستړی به شې وینه به دې کمه شي

ای تړونه پاڅه د صلیب مقابله وکړه
ای ګرانه شهید به شې اروا به دې بې غمه شي

غـزل

حفیظ الدین پیرزاده

څـوک د آزادۍ لپـاره جنـگ کـوي
څوک بیا په راغلیو باندې ننګ کوي

داسې مسلمان نه خو یهود شه دی
فخر په دوستۍ چې د فرنګ کوي

دلتـه د وړو ماهیـانو خیـر نشـته
دې دریاب کې شپې ورځې نهنګ کوي

دیـن لکـه د اور لمبـه، سکروټه شـوه
ځـان قربـانول بـه پـرې پتنـګ کـوي

زه د مفکـر حنجـره تـل سـتایم
سـم د ګلزمـان پشـان آهنـګ کـوي

ځار چې خپل اولاد له عقیدې نه کړي
ویاړ به پرې تاریخ، کلتور، فرهنګ کوي

خپله ئې د سپینې خولې ست کړی دی
لټ حفیظ په دې کار کې هم درنګ کوي!

شهیده مدرسه!

نظام

تـوروړمی ده او تیـاره ده، یـو ډبـوه درسـره راوړه
رڼا نشـته تـوره شـپه ده، یـو ډبـوه درسـره راوړه

هـا چې لـوټې لـوټې ښکاري، هـدیره بـه وي د کلي!
کـه شـهیده مدرسـه ده؟ یـو ډبـوه درسـره راوړه

څو شکېدلې سوخېدلې، پاڼې خاورو لاندې ښکاري
چې قـرآن کـه سـیپاره ده؟ یـو ډبـوه درسـره راوړه

جومات رنګ إمام شهید دی، نه منبر شته نه محراب شته
چې پـه کـوم لـوري قِبلـه ده؟ یـو ډبـوه درسـره راوړه

د دردونـو تورتمونـو، سـباوون د هیلـو وړی
د مـاتم فضـا خپـره ده، یـو ډبـوه درسـره راوړه

دې وران کلـي کـې نظامـه، رانـه ورکـه شـوله لاره
نابلـده منطقـه ده، یـو ډبـوه درسـره راوړه

۲۰۱۸ زکال

د جولای د میاشتې جهادي خبرونه

د پروان ولایت د قلعه نصرو سیمه کې په امریکایي یرغلکرو چاودنه

د جوزجان په درزآب کې د طالب ځواکونو لخوا پر داعشي ملیشو د تصفیوي عملیاتو انځورونه

د پکتیکا اومنې ولسوالی د زواکی سیمه کې له یوې پوستې ولجه شوي وسلې او مهمات

د لومړی پښتی انځور د جوزجان د درزآب ولسوالی دی

MORCHAL

Islamic, Jihadist, Educational And Cultural Monthly Journal

لا تر اوسه يې ماغـــزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سنګ دی